# دَ پښتو قومي نصاب

دَ اول نه تر دولسم جماعت

2009

**دَ پاکستان حکومت**

**دَ تعلیم وزارت، اسلام اباد**

# فهرست


| شمېر | عنوانونه | مخ |
|---|---|---|
| | فهرست | ii |
| | پېش لفظ | iii |
| 1 | دَ پښتو ژبې اهميت او ضرورت | 1 |
| 2 | قومي مقصدونه | 8 |
| 3 | دَ پښتو ښوونې خاص مقصدونه | 9 |
| 4 | دَ پښتو دَ تدريس بنيادي هدفونه | 10 |
| 5 | تدريسي مقصدونه | 12 |
| 6 | دَ مقصدونو مرحله وار تفصيل | 14 |
| 7 | تدريجي مقصدونه | 38 |
| 8 | دَ پښتو قاعده | 41 |
| 9 | تجويز کړے شوي موضوعات/عنوانات دَ اول جماعت | 42 |
| 10 | تجويز کړے شوي موضوعات/عنوانات دَ دوېم جماعت | 43 |
| 11 | تجويز کړے شوي موضوعات/عنوانات دَ درېم جماعت | 44 |
| 12 | تجويز کړے شوي موضوعات/عنوانات دَ څلورم جماعت | 45 |
| 13 | تجويز کړے شوي موضوعات/عنوانات دَ پينځم جماعت | 49 |
| 14 | تجويز کړے شوي موضوعات/عنوانات دَ شپږم جماعت | 52 |
| 15 | تجويز کړے شوي موضوعات/عنوانات دَ اووم جماعت | 55 |
| 16 | تجويز کړے شوي موضوعات/عنوانات دَ اتم جماعت | 57 |
| 17 | دَ قواعدو نصاب (جماعت وار) | 59 |
| 18 | دَ نهم جماعت دپاره تجويز کړي شوي موضوعات او عنوانات | 62 |
| 19 | دَ لسم جماعت دپاره تجويز کړي شوي موضوعات او عنوانات | 69 |
| 20 | دَ يولسم جماعت دپاره تجويز کړي شوي موضوعات او عنوانات | 76 |
| 21 | دَ دولسم جماعت دپاره تجويز کړي شوي موضوعات او عنوانات | 82 |
| 22 | دَ درسي کتابونو دَ مؤلفينو دپاره هدايات | 87 |
| 23 | دَ درسي نصابي کتابونو تيارے | 90 |
| 24 | تعليمي سرگرمي | 94 |
| 25 | سمعي او بصري معاونات | 95 |
| 26 | دَ استاذانو تربيت | 96 |
| 27 | دَ استاذانو رهنما يا مرستيال | 97 |
| 28 | جائزې او امتحانونه | 99 |
| 29 | دَ پښتو دَ قومي نصاب ۲۰۰۹ء جوړوونکي او جاج اخستونکي | 100 |

# پیش لفظ

دَ تعلیمي معیار بهتري زمونږ قومي خوب هم دے او ضرورت هم. حکه نو د بدلیدونکي وخت دَ غوښتنو ترمخه وخت په وخت دَ قومي نصاب جائزه اخستل ضروري شي. د دې خبرې ترمخه د تعلیم وزارت. د پاکستان حکومت د ټولو مضمونونو د قومي نصاب د پاکستاني معاشري د بدلیدونکیو ضرورتونو سره د یو شان کولو دپاره په ۲۰۰۵ء کښې د دې د جائزې ابتداء وکړه. مقصد دا وو چې په یویشتمه صدۍ کښې داخلیدو سره چې د علم او تحقیق په میدان کښې کوم بدلونونه مخې ته راغلي دي، قومي نصاب د هغې هنداره کړي او د ماشومانو تعلیم او تربیت په داسې انداز وشي چې هغه نه صرف د ملک یو ښه وګړے جوړ شي بلکې په بین الاقوامي کچ دَ نورو ملکونو په مقابله کښې خپل ملک دَ ترقۍ په لاره روان کړي.

د دې خبرې ترمخه د تعلیم وزارت په 7-2006ء کښې نوې سکیم آف سټډیز هم مرتب کړو چې دَ داسې مضمونونو تدریس هم ممکن شي چې دَ معاشرې ضرورت وي. دې سکیم آف سټډیز کښې دَ پرائمرۍ نه واخلې تر اعلی ثانوي سطحې صوبائي/پاکستاني ژبو دَ تدریس ګنجائش هم ساتلے شوے دے. چې ماشومان دَ قومي ژبې اُردو او بین الاقوامي ژبې انګریزۍ سره سره خپلې مورنۍ، صوبائي پاکستاني ژبو کښې هم پوهه او مهارت حاصل کړي. چونکې ژبه دَ قوم او ملک یا کومې علاقې/صوبې دَ تاریخ او ثقافت دَ محفوظولو او مخ په وړاندې بوتللو له ټولو اهمه ذریعه وي څکه نو دَ ژبې د تدریس مطلب دَ علاقې/صوبې د تاریخ او ثقافت نه د ماشومانو اګاه کول دي.

دَ پښتو قومي نصاب (دَ اول نه تر دولسم جماعت) دَ تیارۍ ابتدائي کار دَ صوبه خیبر پښتونخوا ټیکسټ بُک بورډ پېښور تر سره کړو. داسې څکه وشو چې پښتو ژبه په صوبه خیبر پښتونخوا کښې په وسیع پیمانه وئیلے شي او څکه دَ پښتو قومي نصاب په جوړښت کښې دَ صوبې نه دَ داسې ماهرینو شاملول ممکن وو چې له یوې اوږدې مودې راهسې تعلیم او تدریس سره تړلي وو. چې یو پله دَ پښتو ژبې له نزاکتونو خبر وو او بل طرف ته دَ خپلې تدریسي تجربې په بنیاد داسې نصاب ترتیب کړي چې دَ مختلفو جماعتونو دَ ماشومانو دَ طبعي ذهني عمر تر مخه مناسبې سرګرمۍ په نصاب کښې شاملې کړي.

دَ نصاب شعبې دَ مسودې وصولولو نه پس دا مسوده دَ قومي جائزې کمېټۍ په وړاندې پېش کړه. دې کمېټۍ کښې دَ صوبه خېبر پښتونخوا او بلوچستان صوبې ماهرين شامل کړے شو چې دَ قومي نصاب په توګه ئې په ټول ملک کښې دَ اوسېدونکې پښتون ابادۍ دپاره يو شان قابل قبول جوړ کړي. قومي جائزه کمېټۍ دَ اُردو قومي نصاب دَ جماعت اول نه تر دولسم. دَ اسلاميات قومي نصاب دَ جماعت اول نه تر دولسم او دَ جنرل نالج قومي نصاب دَ جماعت اول نه تر دوېمه نه په استفاده ابتدائي مسوده دَ نورې ښهٔ کولو تجويزونه وړاندې کړل. دَ نورو نصابونو په نظر کښې لرلو اهتمام دې دپاره وکړے شو چې يو خو دَ پښتو نصاب دَ لساني مهارتونو په حواله دَ قومي ژبې نصاب کښې ورکړې شويو مهارتونو برابر کړے شي او بل دا چې اُردو. اسلاميات او جنرل نالج کښې لهٔ وړاندې دَ کومو موضوعاتو احاطه شوې ده او څهٔ چې به ماشومان په لازمي حېثيت لولي. دَ هغې په تکرار دَ پښتو نصاب بې لهٔ څهٔ وجې دروند نهٔ کړے شي. دې سره سره دَ دې خبرې يقيني کولو هم هڅه شوې ده چې دَ پښتو ويونکې ابادۍ په تاريخ او ثقافت او لساني ضرورتونو کښې يوه خوا هم تږې پاتې نهٔ شي.

دَ نصاب موزونيت عملي تجربه ګاه دَ جماعت کمره (کلاس روم) وي. دَ جماعت کمرې ته دَ ماشوم په لاس کښې نصاب صرف دَ کتاب په شکل کښې وررسي. اوس دا ذمه وارې دَ درسي کتابونو دَ جوړونکيو. ليکونکيو. خورونکيو او دَ ټېکسټ بُک بورډ ده چې هغوي داسې کتابونه جوړ کړي چې دَ نصاب دَ اصل روح مطابق وي. کتابونو سره سره دَ استاذانو تربيتي ادارو او خپله دَ استاذانو دا ذمه واري ده چې په داسې انداز ئې تدريس وکړي چې په نصاب کښې دَ ورکړے شويو مقاصدو پوره پوره حق ادا کړے شي.

دَ نصاب تياري يو مسلسل عمل دے چې پکښې دَ استاذانو. طالب علمانو. والدينو. دَ ژبې دَ ماهرينو او دَ معاشرې دَ نورو طبقو رائې ډېرې ګټورې ثابتېږي. دَ نصاب شعبه دَ تعليم وزارت به داسې ټولو رايو ته هرکلے وائي چې دَ راتلونکې جائزې دوران کښې ئې دَ نور ښهٔ کولو په کار راځي. دَ تعليم وزارت دَ هغو ټولو غړيو او ادارو مننه کوي چې دَ پښتو قومي نصاب په تيارۍ کښې ئې زمونږ مرسته او ملګرتيا کړې ده.

عارف مجيد
جوائنټ ايجوکېشنل ايډوائزر دَ نصاب شعبه،
دَ تعليم وزارت، دَ پاکستان حکومت
اسلام اباد

# دَ پښتو ژبې اهمیت او ضرورت

څنګه چې تعلیم دَ یو قوم په اجتماعي وده کښې ستر کردار لري. دغه شان ژبې ته هم دَ تعلیم په ترقۍ کښې یو لوړ او ستر مقام حاصل دے. هم دغه سبب دے چې زمونږ په قومي مقصدونو کښې کۀ چرته دَ نوي نسل دپاره دَ خپل تاریخ او تهذیب او تمدن مطالعه ضروري ګڼلې شوې ده نو هلته دَ قومي ژبې اُردو سره سره دَ نورو پاکستاني قامي ژبو دَ ښئیلو ضرورت هم منلے شوے دے.

زمونږ په تعلیمي او تدریسي مرکزونو کښې دَ نورو مشرقي او پاکستاني ژبو نه علاوه پښتو ژبې ته هم یو ستر او لوړ مقام حاصل دے او دَ هغې سبب دا دے چې:

- ❖ پښتو ژبه دَ صوبه خیبر پښتونخوا او بلوچستان دَ اوسېدونکیو دَ اکثریت مورنۍ ژبه ده او په پاکستان کښې دَ پنجابۍ نه پس دوېمه لویه ژبه ده.
- ❖ دا ژبه په تاریخي او لساني حواله پېنځۀ زره کاله زړه ده. چې په ادبي او تحریري حواله دولس سوه کاله زړه سرمایه لري.
- ❖ پښتو ژبه دَ نړۍ په هغو ژبو کښې شامله ده چې په اقوام متحده کښې دَ منلې شویو دوه اتیا ژبو په قطار کښې ئې څلور څلوېښتم نمبر دے.
- ❖ دَ برصغیر دَ ازادۍ په هڅو کښې چې پښتو شعروادب کوم کردار لوبولے دے هغه دَ پاکستان دَ تحریک او دَ ازادۍ دَ تحریک او تاریخ یو روښانه باب دے.
- ❖ دَ اسلام په خورونه او دَ اسلامي فکر او فن په تعلیم کښې دَ عربۍ او فارسۍ سره دَ پښتو ژبې خدمتونه هم نۀ هېرېدونکي دي.
- ❖ پښتو ژبې ته دا اعزاز حاصل دے چې په دې کښې دَ حکیم الامت علامه محمد اقبال دَ ټولو کتابونو ترجمې شوې دي چې یو اړخ ته ئې پښتو شاعرۍ ته دَ

موضوع په حواله پراخوالے بخښلے دے او بل پله ئې ملکي او قومي یووالي ته وده ورکړې ده

- پښتو نه یواځې د اصنافو او فکر او فن په حواله د نړۍ په لویو ژبو کښې شامله ده بلکې د خپلو خانګړیو اصنافو په حواله هم د نورو ژبو نه یو منفرد حیثیت لري

- پښتو ژبه د هغه تهذیب او ثقافت آئینه داره ده چې په کښې د اسلامي افکارو. پښتنو قدرونو او سیمه ایزو مزاجونو یووالے په بشپړه توګه خوندي دے

- دا وخت د پښتو ژبې د رېډیائي خورونو سلسله د نړۍ د شپږ پنځوسو ملکونو نه جاري ده چې د دغې ژبې بین المللي حیثیت او اهمیت په ګوته کوي

- د ملک د زیاتو برخو په کالجونو او سکولونو کښې د پښتو ژبې د ښوونې انتظام موجود دے او په خپلو یونیورسټیو کښې ئې د ښوونې شعبې پرانستې شوې دي اندازه د شلو کلونو راهسې په پېښور یونیورسټۍ او بلوچستان یونیورسټۍ کوئټه کښې د پښتو ژبې او ادب په حواله د ایم فل او پي ایچ ډي پروګرامونه روان دي دغه شان په علامه اقبال اوپن یونیورسټۍ اسلام اباد او قائد اعظم یونیورسټۍ اسلام اباد . پنجاب یونیورسټۍ لاهور. ګومل یونیورسټۍ ډېره اسماعیل خان او نېشنل یونیورسټي آف ماډرن لینګوېجز اسلام اباد کښې د پښتو ژبې او ادب تدریس په مختلفو درجو کښې جاري دے

- د صوبې حکومت په ۱۹۸۱ کښې د پښتو ډکشنري پراجېکټ پرانسته کړې وه چې وروستو ټول کار ټېکسټ بک بورډ پېښور ته حواله کړے شو او په نتیجه کښې ئې د پښتو یو معیاري لُغت د «دریاب» په شکل کښې مخې ته راغے

- د صوبه خیبر پښتونخوا وزیر اعلیٰ په خان عبد'لولي خان یونیورسټۍ مردان کښې هم د پښتو څانګې د پرانستلو وعده کړې ده

- د صوبې حکومت په ۱۹۹۳ء کښې پښتو ادبي بورډ (پېښور) جوړ کړو چې مقصد ئې د پښتو ادب او صحافت ته وده ورکول دي

- په پېښور يونيورسټۍ کښې پښتو اکېډمۍ تقريباً دَ څلور پنځوسو کلونو نه علمي، ادبي او تحقيقي کارونو کښې ډېر کار کړے دے. دغه شان بلوچستان کښې هم پښتو اکېډمي خپلې علمي، ادبي او تحقيقي سرګرمۍ جاري ساتي.

- دَ نظم او نثر په حواله پښتو ژبه يوه ستره علمي، ادبي، تحقيقي، تنقيدي او ثقافتي پنګه لري چې دَ وطن د هېڅ يوې ژبې نه وروستو نۀ ده.

- دَ دې ژبې ويونکي دَ ملک په هره برخه کښې خواره دي ځکه نو د پښتنو سيمو په سکولونو او کالجونو کښې دَ طالب علمانو دپاره دَ پښتو زدکړې مناسب انتظام ضروري دے.

- دَ پښتو ژبې دَ اهميت تر مخه دَ صوبې حکومت په ۱۹۸٤ ء کښې دَ پرائمري ټيکسټ بک پښتو ترجمې پراجېکټ اجراء کړو چې دَ پښتو ژبې دَ ودې او ترقۍ سبب وګرځېده.

# قومي مقصدونه

دَ يو قوم تعليمي نظام دَ داسې وګړيو په تعليم او تربيت زور راوړي چې دَ هغوي دَ تعليمي مرام، لوړو قدرونو او روايتونو دَ تکميل او حصول په لاره کښې ګټور ثابت شي. ژبښوونه هغه يو اخيني ذريعه ده چې دَ وګړيو په تربيه کولو دَ مطلوبه مقصدونو په حصول کښې ښخي واضح، مؤثر او څرګند کردار ادا کوي او دَ ژبې په مرسته دَ نورو مضمونونو په زدکړه کښې امداد کوي.

دَ نصابي کتابونو په ترتيب، تهذيب، دَ مضمونونو او موادو په انتخاب، خبرو اترو او دَ مضمونونو عنوانونه او په خصوصي توګه دَ استاذانو تربيت او طريقۀ کار دې دَ قومي مقصدونو هنداره وي. لۀ دې امله دَ پښتو ژبې دَ ښوونې په دوران کښې دې دغه لاندېني مقصدونه په نظر کښې وساتلے شي:

- دَ ماشومانو په زړۀ کښې دَ وطن سره بې کچه مينه او يو تر بله دَ قربانۍ او خواخُوږۍ او اخلاص جذبه پېدا کول.
- دَ طالب علمانو په زړونو کښې دَ انساني، اسلامي او پښتنو قدرونو دپاره مينه او محبت پېدا کول او دَ هغې مطابق دَ هغوي شخصيت ته وده ورکول.
- دَ قوم او ملت دَ ټولو وګړيو دپاره دَ طالب علمانو په زړونو کښې دَ يو شان مينې او احترام جذبه پېدا کول.
- په طالب علمانو کښې دَ انسانيت دَ خدمت جذبه او احساس پېدا کول او دَ هغوي نه ايمانداره او مخلصه انسانان جوړول.
- دَ پښتو سره سره دَ طالب علمانو په زړۀ کښې دَ نورو پاکستاني ژبو دپاره احترام پېدا کول.
- طالب علمانو ته دَ ساده ژوند، خوداعتمادۍ او دَ محنت عظمت په ګوته کول او هغوي راتلونکي عملي ژوند ته تيارول.
- په طالب علمانو کښې دَ اهمو قومي دستورو دَ اهميت احساس پېدا کول.
- دَ پښتو ژبې په مرسته طالب علمان لۀ خپل تهذيب، ثقافت، دَ خپلو قومي مشرانو او دَ ژبې دَ کوټليو قدرونو څخه خبرول.

# دَ پښتو ښوونې خاص مقصدونه

دَ مهارتونو ابتدا لۀ اولنيو جماعتونو نه کېږي. په دغو درجو کښې دَ عمر په مناسبت دَ ماشومانو دلچسپۍ سره سم، دَ څيزونو دَ تکرارولو او دَ انفرادي توجه اصول په نظر کښې ساتل پکار دي. په دغو جماعتونو کښې دَ پښتو ژبې دَ ښوونې خصوصي مقصدونه څۀ داسې دي

- ❖ طالب علم دې دَ ژورې مشاهدې په بنياد څيزونه وپېژني او ښلتون دې پکښې وکړي.
- ❖ اوازونه دې په غور اوري چې ادراک او فرق ئې په ښه توګه وکړے شي.
- ❖ په صحيح ژبه او لهجه کښې معلوماتي او تخليقي خبرې اترې وکړے شي.
- ❖ چې تحريري مواد ولولي. خوند او معلومات دواړه ترې واخلي.
- ❖ صحيح هجې خوشخطه وليکي.
- ❖ لۀ واقعاتو صحيح نتيجې تر لاسه کړي.
- ❖ تر لاسه شوي معلومات او مشاهدات په ذهن کښې وساتي او دَ ضرورت تر مخه ئې استعمال کړي.
- ❖ دَ ژبې دَ لفظونو دَ بنيادي ذخيرې عملي استعمال وکړي او دَ ژبې دَ جوړښت نه خان خبر کړي.
- ❖ دَ صحيح مطالعې عادت خپل کړي او دَ زياتي کتابونو دَ مطالعې شوق پيدا کړي.
- ❖ پښتو ژبې سره محبت وکړي.
- ❖ خپل قومي تهذيب او ثقافت وپېژني او پرې فخر وکړي.
- ❖ دَ ژوند، ټولنې او چاپېرچل په حواله انساني، اسلامي او پښتنانۀ قدرونه او اداب زده کړي او په عملي ژوند کښې ئې څرګندونه وکړي.

# دَ پښتو دَ تدریس بنیادي هدفونه

## عمومي هدفونه

- پښتو دَ صوبه خیبر پښتونخوا دَ پښتنو مورنۍ ژبه ده چې دَ پښتنو په سیمه کښې هر ځائے وئیلے. لیکلے او لوستلے شي او خلق پرې په آسانۍ پوهیږي. په دې بنیاد دَ صوبې هر طالب علم دَ دې جوګه کول پکار دي چې هغه دَ دې ټولو مهارتونو په رو سره دَ دې زدکړه وکړي

- پښتو دَ بلوچستان او قبائلي علاقو هم تر ټولو اهمه ژبه ده او دَ ګاونډي ملک افغانستان قومي ژبه هم ده ځکه نو دَ نشریاتي او اطلاعاتي رابطو په لحاظ هم دَ دنیا په هغو ژوندیو ژبو کښې حسابیږي چې دَ اقوام متحده دَ چارټر مطابق ئې څلویښتم (٤٤) نمبر دے ځکه نو دَ صوبې هر پښتو ویونکي له پکار دي چې په خپله مورنۍ ژبه پښتو کښې دَ لیکلو. لوستلو او لولولو استعداد او صلاحیت حاصل کړي

- پښتو ژبه دَ لیک لوست نه علاوه په ادب. صحافت. تعلیم. سائنس. ټیکنالوجي. ثقافت. سیاست او دَ ژوند سره تړلیو نورو ځانګو کښې هم استعمالیږي. په دې حواله دَ صوبې طالب علمان دَ دې جوګه کول دي چې په خپله مورنۍ ژبه پښتو کښې دَ علم حصول وکړے شي

- پښتو ژبه کښې دَ نورو ژبو نه دَ لفظونو. تصوراتو. دَ بیان دَ انداز او دَ صنفونو په لحاظ هم دَ ډېر څۀ خپلولو صلاحیت موجود دے ځکه نو پښتانۀ طالب علمان دَ دې جوګه کول دي چې هغوي دَ لفظونو راجوړولو او لیکلو (انشا پردازۍ) په حواله دَ خپلو صلاحیتونو جوهر څرګند کړے شي

- پښتو ژبه په خپله جولۍ کښې دَ نویو رجحاناتو ځایولو پوره پوره صلاحیت لري. ځکه نو پښتانۀ طالب علمان دَ دې جوګه کول دي چې دَ پښتو په حواله دَ نویو غوښتنو شعور ولري او دَ هغې دپاره پکار راتلونکیو مهارتونو باندې عبور حاصل کړي

## خصوصي هدفونه

د پښتنو سيمه کښې دې د پښتو تدريس په دې انداز وي چې پښتنه طالب علمان د دې وړ شي چې

- د پښتو ژبې د جوړښت. وسعت او اهليت نه واقفيت تر لاسه کړي
- دَ پښتو ويلو په ټولو غوښتنو (لهجو. تلفظ او ادائيګئ) پوره پوره عبور حاصل کړے شي
- پښتو ژبه کښې بيان شوي تقريرونه. خطبې او دَ خنو نورو مـوادو اورېدو پوره صلاحيت ولري
- دَ پښتو دَ مختلفو منظومو او منثورو آثارو په لوستو دَ بيان په طرز کښې بېلتون. ستائنه او کره کتنه وکړے شي
- دَ خپل مافي الضمير مطابق په پښتو ژبه کښې ليک لوست په غوره توګه وکړے شي
- خپل ذاتي او قامي ژوند کښې پښتو ژبه په عمومي توګه پکار راوستے شي او دَ دې په ذريعه دَ موجوده ادبي ذخيرې په لوستو خپل قامي ويار. دَ تهذيب او ثقافت اوچت شعور. پوهه او دَ ژوند هنر تر لاسه کړي

# تدریسي مقصدونه

## OBJECTIVES INSTRUCTIONAL

### ابتدائي درجه (سطح)

دَ پښتو تدریس په ذریعه دي طالب علمان دَ دې جوګه کړے شي چې:

❖ دَ پښتو توریو، بنیادي لفظونو او ساده جملو جوړول وپېژني.

❖ په پښتو کښې دَ شویو خبرو په اورېدو دَ هغې په مفهوم ځان پوهه کړي او عمومي جاج ئې واخستے شي.

❖ دَ پښتو دَ امروزه استعمال دَ ټکیو په استعمالولو خبرې وکړے شي.

❖ دَ پښتو نظم او نثر په لوستو دَ شاعر او لیکونکي دَ بیان او مقصد نه اګاه شي.

❖ دَ خپل عملي ژوند عام او بنیادي ژبني ضرورتونه دَ پښتو په مرسته پوره کړے شي.

### مینځنۍ درجه (سطح)

دَ پښتو تدریس په ذریعه دي طالب علمان دَ دې جوګه کړے شي چې:

❖ دَ پښتو ژبې په بنیادي جوړښت کښې دَ مرکبو جملو پورې پوهه حاصله کړي.

❖ پښتو ژبه کښې دَ خبرو اترو، تقریرونو او خطبو په اورېدو ځان په ټولنیزو او اخلاقي قدرونو پوهه کړي.

❖ دَ پښتو په امروزه ژبه کښې دَ خپلې رائې په استعمالولو خبرې اترې وکړے شي.

- دَ ژبې او انساني فطرت تر مینځه تړون دَ نظم او نثر په صورت کښې ولولي او پرې پوه شي
- دَ پښتو په لیکلو دَ امروزه چارو، مشاهدو، خیالاتو او رائې اظهار وکړے شي
- دَ خپل عملي ژوند عام او بنیادي ژبني ضرورتونه دَ پښتو په مرسته پوره کړے شي

## لوړه درجه (سطح)

دَ پښتو تدریس په ذریعه دې طالب علمان دَ دې جوګه کړے شي چې:

- په پښتو ژبپوهنه پوره عبور حاصل کړے شي.
- دَ ژبې، احساساتو، جذباتو، خیالاتو او تصوراتو په حواله دَ شویو خبرو اترو بشپړ ادراک وکړے شي.
- پښتو کښې دَ زړۀ خبره پوره سیاق و سباق سره دَ خبرو اترو او تقریر په ذریعه تر نورو ورسولے شي.
- په پښتو کښې دَ نظم او نثر په صورت کښې دَ موجوده ادب پارو، صحافت، دفتري او عدالتي ضرورتونو، نویو علمي او تکنیکي غوښتنو په حواله دَ لیکونو دَ لوستو پوره فهم حاصل کړے شي دَ هغې ستائنه او کره کتنه وکړے شي.
- پښتو کښې دَ خیالاتو، احساساتو، جذباتو، تاثراتو او ټولنیزو ضرورتونو په بنیاد غوره، ساهو او سوچه لیکونه وکړے شي.
- په عملي ژوند کښې ادبي، صحافتي، دفتري، عدالتي، علمي، تکنیکي او نور ټولنیز ضرورتونه په پښتو ژبه کښې په ډېر هنر استعمال کړے شي

# دَ مقصدونو مرحله وار تفصيل

(Goals)

## دَ اول نه تر پنځم جماعت

- پښتو کښې واقعات، قيصې، تقرير، خطبه واورې او دَ هغې په اهمو نکتو ځان پوه کړي
- کم نه کم دَ ابتدائي دوه نيمو زرو لفظونو معنې زده کړے شي
- دَ امروزه خبرو اترو په ذريعه ساده جملو ته رسائي حاصله کړي
- دَ اوو کالو نه زيات ماشوم له دومره قابليت پکار دے چې پښتو واورې او پرې پوه شي
- دَ فاعل، مفعول او فعل تر حده ئې ساده جملې په فهم کښې راشي
- دَ پښتو دَ حروف تهجي پېژندګلو او دَ هغې تلفظ زده کړے شي
- دَ يو شان اواز لرونکيو الفاظو په اورېدو په مختلفو لفظونو کښې دَ هغې فرق محسوس کړي
- اورېدې ساده جملې او په هغې مشتمل عبارت، واقعه يا قيصې اورېدل دَ هغې دَ اجزاو مثلاً کردار، مقامونو او افرادو او واقعاتو باره کښې دَ مخصوص رد عمل ښکاره کولو دپاره تيار شي
- دَ اورېدو نه پس دَ پښتو لفظونو صحيح تلفظ او دَ هغې صحيح ادراک وکړے شي
- دَ اورېدو نه پس دَ لوستلو دپاره تيار شي يا ورسره ورسره دَ لوستو قابل شي
- دَ اورېدلو نه پس دَ صحيح او غلط اندازه ولګولے شي

- په پښتو کښې ورکړے شوي معروفې او منکرې د ساده امر او نهي جملې واوري او پرې پوه شي
- پښتو خبرو اترو کښې دَ جملو تسلسل مربوط کړي او معنې ترې واخستے شي او په واقعه یا قیصه پوه شي
- دَ آهنګ او لے په حواله دَ ساده مصرعو، شعرونو او نظمونو نه خوند واخستے شي
- دَ لطیفې یا اړ او دونې په اوریدو په هغې کښې دَ پروت علم او حکمت نه خبر شي
- دَ اوږدو خبرو اترو، خبرې یا تقریر اوریدو نه پس دَ کلام دَ اجزاؤ لکه دَ شروع، اهمو نکاتو او نتیجو ادراک وکړے شي
- دَ اوریدو نه پس دَ خبرو تجزیه وکړے شي او دَ سوالونو دَ جواب دپاره تیار شي

### ۱. مشاهده کول:

- طالب علم دې دَ تاریخي عمارتونو، اهمو ځایونو او تجارتي مرکزونو سیل وکړي او دَ هغې په حقله دې دَ واقعاتو او روایاتو نه واقفیت حاصل کړي مثلاً دَ پېښور عجائب ګر، دَ مهابت خان جُمات او دَ تخت بائي کنډرونه وغېره.
- نیمګړي تصویرونه، ماډلونه او څیزونه دې په غور وګوري او دَ هغې اجزاء دې په ګوته کړي چې هغې کښې موجود نهٔ وي.
- دَ ساده تصویرونو په مرسته دې قیصې پوره کړي.
- دَ فطري منظرونو مشاهده دې وکړي، خوند دې ترې واخلي او دې لړ کښې دې خپلې مشاهدې په ساده طریقه بیان کړي.

### ۲. اوریدنه او پوهه:

- دَ اوریدو په وخت دې په غور واوري.

- چې قيصې او واقعې واوري نو چې يادې ئې کړي
- دَ سمعي آلاتو په مرسته دې واوري. پېغام او واقعات دې ياد کړي
- دَ تېر جماعت په نسبت دې زيات وخت له توجه په ځائے کړي
- دَ اواز دَ ښکته پورته کېدو نه دې درست مفهوم واخلي
- دَ نظم په اورېدو دې دَ خوښې شعرونه ياد کړي

## ۳. خبرې اترې کول

- دَ پښتو دَ درستې لهجې او صحيح تلفظ خپلولو هڅه دې وکړي
- دَ موقعې مطابق دې په لهجه کښې بدلون راولي. (دَ حېرانتيا. غم. ښادۍ. مايوسۍ او جوش وغېره په موقعه)
- په صحيح ژبه کښې دې دَ خپل زړهٔ خبره په مناسب رفتار بيان کړي
- دَ خپل ذات. کور. ماحول او ټولنيزو واقعاتو وغېره په حقله دې کم نه کم تر لسو منټو خبرو اترو کښې برخه واخلي
- تر درېو منټو دې په يادو تقرير وکړي (دَ خوښې کتاب يا دَ رسالې په تعارف کښې)
- خپلې مشاهدې دې ښې ويرې ښې ترهې بيان کړي
- دَ تصوير په ليدو دې متعلقه واقعات بيان کړي
- خپل احساسات او تاثرات دې په ساده او اسانه ژبه کښې بيان کړي
- دَ معاشرتي نوعيت کارونه دې دَ مناسبو لفظونو دَ ذخيرې په مرسته بيان کړي
- نظم دې تحت اللفظ بيان کړي او کم نه کم څلور قومي نظمونه دې په يادو واوروي

- دَ ماحول او ابادۍ سره تړلو مسئلو باندې دې په مختلفو عنواناتو دَ خپل خيال څرګندونه وکړي.

## ٤. لوستل:

- دَ عبارتونو لوستلو دوران کښې دې خپله توجه سبق ته لري.
- دَ لوستلي عبارت مطلب دې په خپلو لفظونو کښې بيان کړي.
- لوستلي واقعات دې په ترتيب بيان کړي.
- په مختلفو موضوعاتو ورکړي شوي عبارتونه روانۍ سره ولولي او پرې پوه شي.
- لۀ درسي کتابونو علاوه اخبارونه، دَ ماشومانو رسالې، اعلانونه، لاس ليکلي تحريرونه مثلاً خطونه او رسيدونه وغېره دې لولي.
- مطالعه دې په ازادۍ کوي.
- دَ نظم په لوستو خوند واخلي او دَ خپلې خوښې شعرونه ياد کړي.

## ٥. ليکل:

- ځان له قلم په خپله جوړ کړي.
- خوش خطه ليکي او دَ خوش خطۍ مقابله کښې برخه واخلي.
- املا صحيح او روانۍ سره وليکي.
- دَ جملې په ختمېدو دَ ختمې (-) نخښه وکړي.
- ساده خطونه، قيصې، واقعه دَ ځناورو او بل کوم زړۀ راښکونکي څيز په حقله دَ پنځلسو جملو مضمون وليکي.

- خپلي ډائرۍ کښي روزانه کم نه کم درې خبرې درج کوي چي دَ يادولو جوګه وي.

- دَ کتاب يا رسالې نه دَ خپلې خوښې قيصې، سندره يا نظم نقل کوي او دَ درسي کتاب دَ سبقونو خلاصه ليکي.

- دَ جماعت په کمره (کلاس روم) کښي اويزاندولو دپاره چارټ تيار کړي.

- په تختۍ/بورډ لفظونه وليکي او وې ښئيي.

- دَ خپلو ملګريو په ليکونو کښي دَ غلطيو اصلاح وکړي.

- دَ هم اوازه لفظونو فهرست جوړ کړي.

## ٦. دَ استدلال قوت:

- دَ هر سبق، تقرير يا سرګرمۍ نه پس له هغې څۀ نتيجه يا سبق حاصلولو هڅه وکړي او هغه نتيجه دَ خپل عملي ژوند برخه وګرځوي.

## ٧. دَ معلوماتو او مشاهداتو استعمال:

- دَ خپل وطن او علاقې په حقله معلومات زباني او په ليکلې توګه بيان کړي.

- دَ ليدلي شويو ځايونو په حقله واقعاتي او تاثراتي روداد واوروي او څۀ حصې ئې وليکي.

- دَ مستقبل په حقله دَ خپلو خواهشاتو اظهار وکړي.

- دَ ساده قيصې يا مکالمې ليکلو هڅه وکړي.

- په تقرير او تحرير کښي خپل ذاتي خيالات ضرور شامل کړي.

## ۸. دَ ژبې ساخت او دَ لفظونو ذخیره

- دَ اسم، فعل او صفت لهٔ نومونو خبر شي او تمیز پکښې وکړے شي.
- دَ فعل، فاعل او مفعول دَ تړون نه خبر شي.
- دَ اسم په ځائے دَ ضمیر استعمال کولے شي.
- متضاد، هم قافیه، هم اواز او داسې لفظونه جمع کړے شي چې دَ یو حرف نه شروع کېږي.
- دَ محاورې په استعمال پوه شي.
- دَ لُغت استعمالولو طریقه زده کړي.

## ۹. دَ مطالعې عادت او زیاتي مطالعه

- دَ مطالعې عادت پوخ کړي.
- دَ اخبارونو او رسالو نه علاوه دَ ماشومانو ادب مطالعه کړي.
- دَ خپلې خوښې دَ کتاب انتخاب وکړي.

## ۱۰. پښتو ژبې سره مینه

- پښتو دَ پاکستاني ژبو ځنې یوه لویه او وسیع ژبه ده چې په قومي تعمیر او ترقۍ کښې ئې پکار راولي.
- په پښتو ژبه فخر محسوس کړي ولې چې دا محض ژبه نهٔ ده بلکې دَ ژوند تېرولو یوه مکمله ضابطه هم ده.
- دَ قومي ژبې سره دَ پښتو دَ نزدې رشتې نه خبر وي.

- په پښتو ژبه کښې دَ ليکلي شويو کتابونو په مطالعه کښې خوشحالي محسوسوي.

## ۱۱. قومي تهذيب او ثقافت

- دَ پښتون تهذيب او ثقافت سره سره دَ پاکستان دَ تاريخي پس منظر نه اګاهي ولري.
- په اسلامي طرز زندګۍ فخر وکړي او دَ اسلامي تعليماتو حاصلولو او خپلولو هڅه وکړي.
- دَ پښتنو او قومي تهذيبي روايتونو سره اشنا وي.
- دَ قومي او ديني دستورو نه خبر وي.
- په غېر ملکي څيزونو وطني څيزونو له فوقيت ورکوي.
- دَ اسلامي او قومي مشرانو نامې په احترام اخلي او دَ هغوي په حقله دَ معلوماتو دَ حصول هڅه وکړي.

## ۱۲. دَ اسلامي عقيدو او عملونو احترام

- دَ قرآن مجيد تلاوت او احترام کوي.
- دَ ديني او قومي شعائرو احترام کوي.
- دَ کتابونو قدر کوي او په زمکه دې ئې نۀ غورځوي.
- اسلامي تاريخي واقعات دې اوري دَ خوښې څرګندونه پرې کوي او اثر ترې اخلي.
- پاکستان اسلامي مملکت ګڼي او دَ ديني بزرګانو دَ ادب خيال ساتي.

۱۲. **معاشرتي اداب:**

- ګاونډيانو سره ښه سلوک کوي.
- دَ سکول عمارت او دَ سامان په صفايي کښې دلچسپي اخلي.
- په خپل لاس کار کولو کښې فخر محسوس کړي.
- ځناورو سره مينه او دَ بوټو حفاظت کوي.
- قومي مفاداتو له په خپلو مفاداتو ترجيح ورکړي.

۱. **مشاهده:**

- دَ تاريخي او زړۀ راښکونکيو ځايونو سېل وکړي او دَ خپلې خوښې دَ څيزونو په حقله ترېنه تفصيلي معلومات حاصل کړي.
- دَ امروزه پېښېدونکيو واقعاتو، دستورو او چاپېرچل دَ بدلونونو په غور مشاهده وکړي او بيا ئې په ساده او اسانو لفظونو کښې دَ خپلو همځوليو په وړاندې بيان کړي.

۲. **اورېدنه او پوهه (سماعت او ادراک)**

- دَ تقرير او خبرو اترو دوران کښې پوره توجه ولري.
- په خبره اورېدو کښې دې پرېشاني يا ذهني تناو نۀ محسوسوي بلکې په اسانۍ سره دې ئې واوري.
- دَ سمعي آلو (رېډيو او ټېپ ريکارډر) نه دې دَ قيصې يا تقرير په اورېدو مطلبونه واخلي. دَ صحيح لب و لهجې پوهه ولري.
- په ټېلي فون/موبائل دې پېغام وصول کړي.

- پیغام دې صحیح ورسوي
- د تولنیزو موضوعاتو باره کښې د معلوماتو په اوربدنه دې پوره پوهه ولري.

### ۳. خبرې کول:

- دَ موقعې په مناسبت دې دَ موزونو لفظونو انتخاب وکړي مثلاً دَ روغ رنځور تپوس پوښتنه، اجازت اخستل او تعزیت کول.
- خپل مشاهدات او تاثرات په اسانئ بیان کړي.
- خپل خواهشات او ارمانونه په زړه راښکونکي انداز واوروي.
- صحیح تلفظ او درسته لهجه خپله کړي.
- دَ سکول اسمبلئ ته لږ غوندې خطاب وکړي (کم نه کم دوه منټه)
- په څۀ مناسبه موضوع دَ خپلو جذباتو اظهار (تقریر) په جوش او جذبه وکړي. (څلور منټه)
- دَ مقامي او علاقائي حالاتو په باره کښې صحیح معلومات بیان کړي.
- دَ خپلې علاقې په مسئلو بحث کښې حصه واخلي او دلیل ورکړي.
- په ورکړې شوې موضوع خپل تجربات او خیالات په منظم ډول تسلسل سره وړاندې کړي.
- دَ نسبتاً پیچیده تصویرونو منظرونو په باره کښې خبرې وکړي.
- دَ موضوع مطابق ترانه، نظم، قیصئ یا نثري اقتباس پېش کړي.
- تمثیل یا ډرامه کښې برخه واخلي.

## ٤. لوستل

- عام لاس ليکلي تحريرونه، قلمي مسودې، اخبارونه او رسالې روانۍ سره لولي او مفهوم ترې اخلي.
- دَ صحيح مطالعې عادت خپل او پوخ کړي.
- په معاشرتي موضوعاتو اډانه قيصۍ ولولي او خلاصه ئې بيان کړي.
- دَ نظمونو په لوستو خوشحالېږي او دَ خپلې خوښې نظمونهٔ ياد کړي.
- په نظم وئيلو کښې دَ وزن او بحر خيال وساتي.
- دَ سبق يا قيصۍ باره کښې دَ سوالونو درست جوابونه ورکړي.

## ٥. ليکل:

- دَ خوش خطۍ اصول زده کړي او عمل دې پرې وکړي.
- په ليکلو کښې دې دَ املا لهٔ غلطيو ځان وساتي.
- ندائيه علامت (!) او استفهام (؟) استعمال کړي او دَ واوېنو (" ") په ځائے ځائے دَ استعمال نه خبر وي.
- خطونه، رسيدونه، درخواستونه او بلنې (دعوت نامې) وغېره ليکي.
- خپل مشاهدات او تاثرات ليکلي وړاندې کوي.
- دَ جماعت کمرې (کلاس روم) له چارټونه جوړوي.
- په بورډ روانۍ سره ليکل کولے شي.

- قيصې، واقعه، نظم او روداد ليکي.
- په اسانو موضوعاتو مضمونونه ليکي او سوانحي خاکې ترتيبوي.
- دَ منتخبو شعرونو بياض ترتيب کړي.
- دَ اشارو نه قيصې جوړه کړي.

٦. **دَ استدلال قوت:**

- دَ واقعاتو په تسلسل او تړون (ربط) نظر لري.
- دَ واقعاتو منطقي نتيجې ته دَ رسېدو هڅه وکړي.
- په خاصو حالاتو کښې دَ نتيجو تر نظره مناسب طرز عمل خپل کړي.

٧. **دَ معلوماتو او مشاهداتو استعمال:**

- قوم او وطن سره دَ عقيدت او مينې محبت اظهار وکړي.
- دَ خپل وطن پېژندګلو وکړي.
- دَ خپل دين ځرګندې خوبۍ بيان کړي.
- دَ خپل ماحول او ټولنيزو (معاشرتي) سرګرميو، مېلو، لوبو او قدرتي منظرونو حال بيان کړي.
- په قومي او ملکي موضوعاتو لهٔ ذاتي نقطهٔ نظره تقرير وکړي يا مضمون وليکي.
- دَ مستقبل په باره کښې دَ خپلو عزائمو ځرګندونه وکړي.
- په بحث او مباحثه کښې حصه واخلي، دَ خپلې رائې اظهار وکړي او دَ نورو دَ رائې احترام وکړي.

- دَ مکالمو او بیت بازۍ په مقابلو کښې برخه واخلي

## ۸. دَ ژبې جوړښت او دَ لفظونو ذخیره

- دَ ساده مرکباتو استعمال وکړي او صحیح جمله جوړه کړي.
- دَ غائب، حاضر او متکلم دَ ضمیرونو نه خبر وي او په ځائے ئې استعمالوي.
- دَ اسم، فعل، حرف او ضمیر استعمال په صحیح طریقه وکړي او دَ دې و اصطلاحاتو په تعریف پوهېږي.
- دَ اسم معرفه او اسم نکره دَ پېژندګلو او تعریف نه خبر وي.
- دَ متضادو، مترادفو او هم قافیه لفظونو معقوله ذخیره ولري.
- واحد، جمع، او تذکیر او تانیث (مذکر او مؤنث) زده کړي.
- دَ لُغت استعمال زده کړي.
- دَ پښتو ژبې او مقامي لهجو شریک لفظونه په ګوته کړي.
- دَ محاورو او متلونو استعمال کوي.
- دَ ورکړې شوې عبارت متعلق سوالونه ترتیب کړي.
- جملو کښې دَ قواعدو او دَ ژبې دَ غلطیو اصلاح وکړي.

## ۹. دَ مطالعې عادت او نوره اضافي مطالعه

- دَ مطالعې عادت خپل او پوخ کړي.
- دَ ژورې مطالعې مشق کوي.

- نسبتاً تېز رفتارۍ سره دې مطالعه کوي.
- دَ ښو کتابونو په لوستلو خوشحاله شي.
- دَ غېر اخلاقي کتابونو نه پرهېز وکړي.

۱۰. **پښتو ژبې سره مينه**

- پښتو ژبه دَ عزت سبب ګڼي او په دې فخر کوي.
- دَ پښتو کتابونو په لوستو خوشحالېږي او خوند ترې اخلي.
- په تحرير او تقرير کښې دَ انګرېزۍ دَ لفظونو استعمالولو نه ډډه وکړي.

۱۱. **قومي تهذيب او ثقافت**:

- دَ ملکي استحکام او اتحاد دَ اهميت نه خبر وي.
- په دې پوهېږي چې زمونږ دَ قامي تهذيب اساس په پاکستان کښې دَ اوسېدونکيو قومونو په شريک ثقافت بنا دے.
- دَ انساني او اسلامي معاشرت دَ اصولو خپلولو کوشش وکړي.
- دَ ازادۍ دَ تحريک باره کښې معلومات حاصل کړي.
- دَ قامي شعائرو احترام وکړي.
- ملکي مصنوعاتو له دَ بهرنو ملکونو په څيزونو فوقيت ورکړي.
- په قامي مشرانو فخر وکړي حالات ئې ياد وساتي او په فخر ئې بيان کړي.

# دَ شپږم نه تر اتم جماعت

## ۱. دَ ژبې جوړښت:

طالب علم دې دَ پښتو ژبې دَ جوړښت علم حاصل کړي او دا دې دَ ترقي کونکيو ژبو په حيث زده کړي.

- هغهٔ ته دې دا شعور وي چې پښتو دَ تمامو علومو او فنونو دَ تکميل او ودې او نويو غوښتنو دَ تکميل دپاره غوره ده.
- هغهٔ ته دې معلومه وي چې پښتو په ټوله صوبه کښې دَ فاټا په شمول او دَ بلوچستان په اکثرو علاقو کښې وئيلې، لوستلې او خلق پرې پوهېدے شي.
- دَ لفظونو په ذخيره کښې دې مسلسله اضافه کوي.
- دَ عام استعمال محاورې، تشبيهات، امروزه متلونه دې په ځائے استعمالوي.
- په عامه توګه دې دَ مستعملو سائنسي او علمي اصطلاحاتو نه خبر وي.
- دَ ريډيو او ټي وي دَ خورونو نه دې استفاده کوي.
- دَ نويو لفظونو مفهوم او دَ استعمال ځائے پېژني او خپلو جملو کښې ئې استعمالوي.
- دَ لُغت استعمال دې زده کړي او ذاتي لُغت دې جوړ کړي.
- دَ قواعدو دَ عملي اصولو نه دې اګاهي حاصله کړي او دَ هغې استعمال دې زده کړي.

## ۲. اورېدل او پوهېدل

طالب علم دې دَ سماعت په ذريعه معلومات واخلي:

- اورېدې خبرې دې په غور واوري او ځان دې پرې پوه کړي.
- دَ رېډيو، ټېلي وژن، ټېپ ريکارډر او کمپيوټر وغېره نه دې معلومات واخلي.
- دَ تقرير په اورېدو دې دَ هغې په مرکزي خيال ځان پوهه کړي.
- دَ لفظونو تلفظ دې په غور واوري او ګردان دې ئې وکړي.
- په بزم ادب کښې دې خپل چوڼ کړي څيزونه اوروي.

۳. **وئيل**:

دَ تقرير په ذريعه دې دَ ساده، واضحه تخليقي اظهار صلاحيت پېدا کړي.

- دَ خپلو مشاهداتو په حقله دې خبرې اترې کوي.
- په کومه ساده موضوع دې في البديهه جملې ووائي.
- خپله خبره دې په سادګئ او وضاحت سره بيانوي.
- دَ جماعت، سکول دَ سرګرميو په حقله دې دَ ضرورت مطابق اعلان وکړي او هدايات دې ورکړي.
- واقعې، قيصې، لطيفې، دَ حکمت خبرې او نظمونه دې واوروي.
- دَ سبق متعلق دې سوالونه کوي او دَ سوالونو جوابونه دې ورکوي.
- دَ تصوير په ليدو دې قيصې کوي.

٤. **لوستل**:

نظم او نثر دې صحيح لهجې، درست تلفظ او روانئ سره لولي.

- دَ خوش خوانۍ دَ صفتونو خيال دې ساتي.
- دَ نظم يا عبارت دَ مفهوم مطابق لهجه دې خپله کړي.
- دَ نظم دَ وېنا مفهوم، دَ اندامونو دَ حرکاتو او دَ څهرې په تاثراتو کښې دې مطابقت پېدا کړي.
- دَ لوستلو دَ رفتار زياتولو هڅه دې وکړي.
- عام ليکونه (چارټونه، اشتهارونه وغېره) دې لولي. په معنٰو دې ځان پوهوي او نتيجه دې ترې اخلي.
- داسې ليکونه دې لولي چې ګټه ور معلومات ترې حاصلېږي.

٥. **ليکل:**

دَ صفا او خوش خطه ليک په ذريعه دې دَ ساده، واضحه او تخليقي څرګندونې صلاحيت پېدا کړي.

- دَ صحيح صفا او روانو ليکلو مشق دې کوي.
- دَ سکول او کلاس رساله کښې دې مضمون ليکي او دَ هغې په ترتيب او تدوين کښې دې ګډون کوي.
- خپلوانو او دوستانو ته دې خطونه ليکي.
- خپله ذاتي ډائرۍ کښې دې دَ امروزه معمولاتو، يادګارو واقعاتو او اخبارونو نه زړه راښکونکي معلومات ليکي.
- دَ ښو کتابونو فهرست دې مرتب کړي.
- دَ لوستلو شويو کتابونو دې لنډه او ساده پېژندګلو ليکي.

- دَ اشارو په مرسته دې قیصه جوړوي.

- دَ مضمون لیکنې، قیصې لیکنې او نورو لیکونو په مقابلو کښې دې حصه اخلي.

- لنډې مکالمې (خبرې اترې) دې لیکي.

- صحیح هجو سره دې املا لیکي.

- په لفظونو، جملو او کرښو دې مناسبه فاصله ساتي.

- دَ لیک لوستلو نه پس دې خلاصه لیکي.

- دَ خوشخطۍ په مقابلو کښې دې برخه اخلي.

- خطونه، درخواستونه، بلنې، رودادونه، سفرنامې او رسیدونه دې لیکي.

## ٦. مطالعه:

معلوماتو کښې دَ اضافې دپاره دې دَ مطالعې شوق پیدا کړي.

- صحیح عادتونه دې خپل کړي. سر، سترګو او شونډو له دې حرکت نهٔ ورکوي، په کرښو دَ ګوته ایښودو بغیر دې لولي. لفظونه دې بیا بیا نهٔ ګرځانوي، مرکزي خیال ته دې پام کوي، اهم معلومات او نکتې دې یادې کړي.

- دَ درسي کتابونو نه علاوه دَ غوره کتابونو لوستو شوق ولري او دَ ذاتي کتاب خانې دپاره کتابونه جمع کوي.

- دَ سبقیانو (کلاس فېلوز) په مرسته دَ کلاس لائبرېري ترتیب کړي.

- په درسي کتابونو کښې دَ ورکړې شویو ادیبانو او شاعرانو دَ نورو تخلیقاتو مطالعه دې وکړي.

- وخت په وخت دې دَ مطالعې دَ رفتار جائزه اخلي او دَ رفتار تېزولو هڅه دې کوي.

- دَ مطالعې په پوهه او رفتار دې خصوصي توجه ولري.

## ۷. دَ مشاهدې قوت، حافظه، دَ فکر او تخیل تربیت.

- دَ لساني سرگرمیو په ذریعه دې انفرادي صلاحیتونه پکار راولي.

- په جمله سازۍ او بیت بازۍ کښې دې حصه اخلي.

- دوبېې او علمي معمې دې حل کوي.

- ښۀ شعرونه او نثري فنپارې دې زبانې یادې کړي او په تقریر او تحریر کښې دې ئې په ځائے استعمالوي.

- دَ مضمون، قیصې، نظم او شعر مرکزي خیال اخذ کړي.

- په ورکړې شوې موضوع دَ کم نه کم وخت کښې سوچ او دَ خپلو خیالاتو ښرگندونه وکړي.

## ۸. دین سره مینه او دَ عالمي مشرانو احترام.

دَ دیني قدرونو او اسلامي تهذیب دپاره دَ مینې او احترام جذبات پېدا کړي او دَ عالمي مشرانو احترام وکړي.

- په توحید یقین ولري او په دې پوهه شي چې دَ کائناتو خالق او مالک الله تعالی دے.

- حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم، اهل بیتو، صحابه کرامو، امامانو او دَ دیني بزرگانو سره عقیدت ولري او دَ هغوي په تعلیماتو دَ پوهې او خپلولو هڅه وکړي.

- دَ نورو مذهبونو، بزرګانو، کتابونو، دَ عبادت دَ ځایونو او عالمي مشرانو احترام وکړي.
- دَ عالمي امن او سلامتیا غوښتونکي وي.

۹. **قومي تشخص**

دَ پاکستان حفاظت، وطن سره مینه، سماجي خدمت او د قومي وحدت او افتخار جذبات پیدا کړي او په قومي ثقافت خپلولو کښې خوشحالي محسوس کړي.

- ویاړي چې پاکستانے یم
- دَ پاکستان دَ تحریک نه خبر وي.
- دَ ازادۍ دَ قدر او قیمت نه آګاه وي.
- دَ پاکستان همه اوسېدونکیو لره دَ مینې او احترام جذبه ولري.
- دَ قائد اعظم، علامه اقبال او نورو قومي مشرانو دَ نظریاتو نه خبر وي.
- دَ قومي جنډې، قومي ترانې، قومي ژبې او قومي مشرانو احترام کوي.
- پاکستاني ټولنیز طرز غوره ګڼي او په خپلولو ئې فخر محسوسوي.
- په محله، کلي، ښار او ملک کښې اولسي خدمت وکړي او په اصلاحي کارونو کښې برخه واخلي.

۱۰. **ملکي استحکام**:

دَ قومي او ملکي وسائلو نه ځان خبر کړي او پرله پسې محنت سره دې کښې اضافه او دَ دې دَ تحفظ جذبه پیدا کړي.

- لهٔ دې خبر وي چې دَ پاکستان دَ استحکام بنیاد دَ آئین او قانون پاسداري ده.
- خپل کار په خپله کولو کښې خوشحالي محسوسوي
- دَ صنعتي او زرعي څانګو او دَ کلي وال ماحول دَ اصلاح جذبات پېدا کړي
- قومي مفاداتو له په ذاتي مفاذو ترجيح ورکړي
- دَ وطن جوړو ځيزونو له اوليت ورکړي
- دَ ملکي وسيلو او مسئلو (آلودګی، منشياتو، جهالت، بې روزګاری او په ابادی کښې دَ زياتي وغېره) نه اګاهي حاصله کړي. دَ ټولنې په اهميت ويوهېږي. په وسيلو او مسئلو کښې دَ توازن په ځائې ساتلو جذبه پېدا کړي.
- دَ قومي او بېن الاقوامئي خبر ښېګړې ادارو په حقله معلومات حاصل کړي.

## دَ نهم نه تر لسم جماعت

طالب علم دَ دې جوګه کول چې:

**تقرير:** دَ تقرير په ذريعه دَ خپلو صلاحيتونو ځرګندونه وکړي.

**تحرير:** دَ تحرير په ذريعه خپل تخليقي صلاحيتونه پکار راولي او مضمونونه، مکالمې، طبع زادې قيصې، وړې ډرامګۍ او خاکې وليکي

**مطالعه:** دَ پښتو ادب لهٔ مطالعې دَ خپل ادبي ذوق تربيت وکړي.

**دَ ادبي صنفونو نه واقفيت:** دَ نظم او نثر دَ صنفونو نه واقفيت حاصل کړي.

**ادبي مشران:** دَ ادبي تاريخ او ادبي مشرانو ځنې پېژندګلو حاصله کړي.

**ادبي پوهه**: دَ پښتو ادب په باره کښې شعور پېدا کړي

**ادبي اصطلاحات**: دَ پښتو ژبې دَ قواعدو په باره کښې واقفیت حاصل کړي

**ستائنه**: دَ پښتو نظم او نثر ستائنه وکړي

طالب علم دَ دې جوګه کول چې

۱. **دَ ژبې جوړښت**: دَ پښتو ژبې دَ جوړښت علم حاصل کړي او دا دَ ترقي پذیرې ژبې په حېث زده کړي

۲. **اورېدل او پوهېدل**: دَ سماعت په ذریعه دې معلومات اخذ کړي

۳. **وئیل**: دَ وئیلو په ذریعه دَ ساده، واضحه او تخلیقي څرګندونې قابلیت پېدا کړي

٤. **لولول**: نظم او نثر په صحیح لهجه، درست تلفظ او رواني سره ولولي

٥. **لیکل**: دَ لیکلو په ذریعه دَ ساده، واضحه او تخلیقي څرګندونې صلاحیت پېدا کړي

٦. **مطالعه**: په معلوماتو کښې دَ اضافې او خوند اخستلو دپاره په شوق مطالعه وکړي

۷. **دَ مشاهدې قوت، حافظه او دَ فکر او تخیل تربیت**:

دَ لساني سرګرمیو په ذریعه دې ځانګړي صلاحیتونه پکار راولي

۸. **دَ دین سره مینه او دَ عالمي مشرانو احترام**:

دَ دیني قدرونو او اسلامي تهذیب دپاره دَ مینې او احترام جذبات پېدا کړي او دَ عالمي مشرانو احترام ولري

# دَ یوولسم نه تر دوولسم جماعت

**تقریر:** دَ تقریر په ذریعه دَ خپلو تخلیقي صلاحیتونو څرګندونه کول

- په ادبي انداز کښې دَ خپلو خیالاتو وړاندې کولو هڅه وکړي.
- خپل تقریر کښې دَ موقعې او محل مطابق دَ غوره تشریحاتو، استعاراتو، شعرونو او وېناو استعمال وکړي.

**تحریر:** دَ تحریر په ذریعه دې خپل تخلیقي صلاحیتونه پکار راولي او مضمونونه، مکالمې، طبع زادې قيصې، وړې ډرامګۍ او خاکې ولیکي

- طالب علم دې خپل تحریر کښې مشاهدې او تجزیې په موثر انداز کښې ولیکي
- خپل خیالونه په ښهٔ ترتیب سره ولیکي.
- په لیک کښې خپل ځانګړے اسلوب خپل کړي.

**مطالعه:** دَ پښتو ادب لهٔ مطالعې دَ خپل ادبي ذوق تربیت وکړي.

- طالب علم دې دَ ادب دَ نورو کتابونو ځنې دَ خپل استعداد مطابق استفاده وکړي
- درسي کتاب کښې دَ شاملو شاعرانو، ادیبانو دَ نورو تخلیقاتو مطالعه وکړي.
- دَ کتابونو او ادبي رسالو دَ ادبي برخو نه استفاده وکړي.

**لهٔ ادبي صنفونو واقفیت:** دَ نظم او نثر لهٔ صنفونو واقفیت ولري.

- طالب علم دې په نصاب کښې دَ شاملو نثري صنفونو مثلاً، خاکې، تمثیل، ناول، داستان، ډرامې او تکل نه واقفیت حاصل کړي.

- دَ نظم دَ صنفونو مثلاً حمد، نعت، غزل، مثنوي، رباعي، قصيدې او مرثيې نه واقفيت حاصل کړي

**ادبي تاريخ او ادبي مشران:** طالب علم دې دَ ادبي تاريخ او ادبي مشرانو نه خبرتيا حاصله کړي

- طالب علم دې په نصاب کښې دَ شاملو اديبانو دَ ژوند دَ حالاتو نه خبر وي او دَ هغوي دَ ليکونو لۀ خاصيتونو دې واقف وي.

- درسي کتاب کښې دَ شاملو شاعرانو دَ ژوند دَ حالاتو نه خبر وي او دَ هغوي دَ کلام لۀ خاصيتونو دې اګاه وي.

- درسي کتاب کښې دَ شاملو ادبي مشرانو دَ تاريخي ترتيب نه دې خبر وي.

**تنقيدي شعور:** دَ پښتو ادب په حقله تنقيدي شعور حاصلول.

- دَ مختلفو ادب پارو خوبۍ او خامۍ بيان کړي.

- دَ مضمون، قيصې او نظم تشريح وکړي او مرکزي خيال او خلاصه ئې وليکي.

**فصاحت او بلاغت:** دَ ځنو اهمو ادبي اصطلاحاتو نه خبرېدل.

- دَ بديع او بيان دَ علم دَ اهمو اصطلاحاتو يعني تشبيه، استعارې، تلميح، کنايې، مجاز مرسل، تجنيس، ايهام، حسن تعليل، لف و نشر او مراعات النظير وغيره نه ځان خبر کړي.

**پښتو او پاکستاني ژبې:** دَ پښتو په ذريعه يا نېغ په نېغه دَ پاکستاني ژبو دَ ادب مطالعه کول.

- دَ پاکستاني ژبو دَ منتخباتو مطالعه وکړي.

- دَ مشهورو صوفيانو، اديبانو او شاعرانو دَ منتخباتو دَ ترجمو مطالعه وکړي.

**ستائنه** طالب علم دې د پښتو ادب پارو نه خوند واخلي.

- په یوه موضوع دې شعري او نثري اقتباسونه جمع کړي
- دَ ښهٔ لیک او غوره شعر خوبۍ دې بیان کړي.
- دَ وئیلو کتابونو باره کښې دې خپل تاثرات بیان کړي
- دَ خوښې شعرونه دې دَ بیاض په صورت کښې محفوظ کړي.

# تدريجي مقصدونه (Goals)

## دَ اول جماعت نه تر دريم جماعت

- پښتو کښې دَ شويو سوالونو جوابونه ورکړے شي.
- دَ سوالونو په اوريدو پوه شي چې دَ دهٔ سره څومره دَ الفاظو ذخيره موجوده ده.
- دَ پښتو د حروف تهجي صحيح ادائيگي وکړے شي.
- په اوچت اواز دَ لوستو په صورت کښې دَ پښتو لفظونو دَ هجو، لفظونو او جملو صحيح تلفظ سره ادا کول زده کړي.
- حروف تهجي، لفظونه او جملې واورولے شي.
- دَ هم صوته حرفونو په ادا کولو کښې دَ هغې حرفونو فهم ولرلے شي.
- بنيادي ساده لفظونه او جملې او دَ هغې مفهوم په يقين سره ادا کړے شي.
- دَ شمېر، حرفونو، الفاظو، جملو، څيزونو، نومونو او ذات په حواله دَ سوالونو جوابونه ورکړے شي.
- پښتو کښې ساده جملې، مصرعې، شعرونه، لطيفې، دونې يا اړونه او واقعات بيان کړے شي
- دَ خپل ذاتي رد عمل او خيالاتو په اظهار کښې دَ مخصوصې او مطلوبې لب او لهجې، درست اواز او تلفظ استعمال وکړے شي.

- دَ يو عبارت يا قيصې په اوچت اواز لوستلو کښې دَ صحيح لب او لهجې. تلفظ او آهنگ وغيره لحاظ وساتلے شي

- ساده عبارت نظم وي کۀ نثر باندې پوه شي او درست تلفظ سره ئې ولولي.

- په نظم او نثر کښې فرق وکړے شي

- پښتو کښې ليکلے شوے هر قسم پيغام ولوستے شي.

- قيصې. مکالمې، ډرامې او دَ هغې عناصر ولوستے شي.

- دَ فطرت سره تعلق لرونکي نظم او نثر نه خوند واخلي.

- حرفونه او لفظونه جوړولے او ورانولے شي.

- دوه حرفي، درې حرفي او څلور حرفي لفظونه ليکلے شي.

- ساده جملې دَ اوريدو نه پس ليکلے شي.

- په جملو کښې خالي ځايونه دَ حروف اضافت مثلاً په، کښې وغيره ډکولے شي.

- په خپله حواله په يو عنوان لس جملې ليکلے شي. مثلاً زما کور، زما ښاروے، زما دوست، زما پلار، زما بسته وغيره.

- دَ سبق لوستو نه پس دَ نومونو باره کښې جوابونه ورکولے شي.

## دَ څلورم جماعت نه تر پينځم جماعت

- په ساده او مرکبو جملو مشتمل نظم او نثر باندې پوه شي او وې لولي.

- عام معلومات لرونکو او په فطري موضوعاتو مشتملو ليکونو باندې پوه شي.

- دَ قيصې يا نظم په بنيادي خيال پوه شي او دَ هغې نه نتيجې واخستے شي.

- عبارت دَ رموز اوقاف او مخصوص لهجې او آهنګ سره ولوستے شي
- چې خپل مافي الضمير دَ مختصر عبارت په شکل کښې ليکلے شي
- دَ عـام تحرير دپـاره دَ لفظونـو موجـوده ذخيـره او دَ جملـو جوړښت دَ دې مرحلې دپاره کافي دے
- دَ سبق لوستو نه پس دَ افعالو په حقله جواب ورکړے شي
- دَ شعر لوستو نه پس دَ هغې دَ سوالونو په نثر کښې جواب ورکړے شي

# دَ پښتو قاعده

**يادګيرنه**

دَ اول جماعت نه وړاندې به دَ اول ادنې دَ ماشومانو دپاره دَ پښتو قاعده هم په نصاب کښې شامله وي.

۱. دَ پښتو الف بې (حروف تهجي)

(مفرد او مرکب توري)

۲. حروفِ علت

(زبر، زير، پېښ، تشديد، تنوين)

۳. دَ ټکو جوړښت

(دوه توري، درې توري، څلور توري، پينځهٔ توري)

۴. دَ لفظونو جوړښت

۵. دَ جملو جوړښت

# دَ اول جماعت دپاره تجویز کړي شوي

## عنوانات/موضوعات

۱. **حمد** (**یو**) (اسان او ساده چې د اول جماعت د ماشومانو د ذهني استعداد مطابق وي)

۲. **نعت** (**یو**) (هم دغه شان)

۳. **سبقونه** (**لس**) (قیصې او مضمونونه. خو دواړه به تصویري وي)

**موضوعات**

دَ خبرو اترو آداب. ښهٔ عادتونه. لهٔ معاشرتي مسئلو اګاهي. وطن سره مینه. دَ رشتو اهمیت. چاپېرچل سره اشنائي. اسلامي او اخلاقي اړخ (چې پکښې دَ یوې اسلامي واقعې یا شخصیت تذکره وي). د پښتو دَ سیمې په حواله یوه قیصه چې پکښې د خاورې سره د تړلي یو مشر یا شهید ذکر وي.

۴. **نظمونه** (**څلور**)

قومي. اخلاقي. فطري او ماحولي موضوعاتو باندې چې په اسانه او ساده سوچه پښتو کښې دَ ماشومانو دَ ذهني کچ (استعداد) مطابق وي.

**یادګیرنه**:

دَ سبقونو او نظمونو په انتخاب کښې دې دَ ژبې دَ صحت او دَ خپلې خاورې سره دَ تړون خاص خیال وساتلے شي.

# دَ دویم جماعت دپاره تجویز کړي شوي

## عنوانات/موضوعات

۱. **حمد (یو)** (اسان او ساده چې دَ دویم جماعت دَ ماشومانو دَ ذهني استعداد مطابق وي)

۲. **نعت (یو)** (هم دغه شان)

۳. **سبقونه (پنځلس)** (قیصې او مضمونونه)

(یوه مکالماتي قیصه، یوه ډرامګۍ او دوه نورې عبرتناکې تصویري قیصې)

**موضوعات:** سیرت: (دَ کردار سازۍ په اړه)

دَ پاکستان باني، اسلامي شخصیتونه، نامتو غازیان او شهیدان، بنیادي هنرونه (پېشې) چاپېرچل (موسم، ماحول) سائنس (رڼا، تودوښه) دَ تګ راتګ ذریعې (رېل، جهاز) زمونږ مېلې، اسلامي دستورې، اخلاقیات، ټولنیز آداب، لوبې، غوره وېناګانې، اسلامي شعارونه، ملي دستورې.

۴. **نظمونه (اتۀ)**

(دَ فطرت منظرونه، اخلاقیات، لوبې، ملي شخصیتونه، آداب، ځناور/مرغان)

**یادښېرنه:**

(دَ سبقونو او نظمونو په لیک او انتخاب کښې دې دَ ژبې دَ صحت، دَ خپلې خاورې او ثقافت سره دَ تړون خاص خیال وساتلے شي.)

# دَ دریم جماعت دپاره تجویز کړي شوي

## عنوانات/موضوعات

۱. **حمد** (یو) (اسان او ساده چې دَ دریم جماعت دَ ماشومانو دَ ذهني استعداد مطابق وي)

۲. **نعت** (یو) (هم دغه شان)

۳. **سبقونه** (پنځلس) (قیصې او مضمونونه)

(دوه قیصې دې کم نه کم مکالماتي او دوه دې تصویري وي، یو خط دې هم وي)

**موضوعات**: سیرت (کردار سازي، دَ ښو اخلاقو او عادتونو په حواله)

مسلمانان مشاهیر، پښتانهٔ مشران، سائنس (زمکه، خلا) لهٔ معاشرتي مسئلو اګاهي، معاشرتي شعور، وطن او قامي شعور، دَ قامي ادارو پېژندګلو، سېل او سفر، قامي او مذهبي دستوري، اسلامي او پښتانهٔ قدرونه، دَ پښتنو سیمه ایزې لوبې، زمونږ ګاونډیان.

۴. **نظمونه** (اتهٔ)

قامي او ملي شخصیات، ښهٔ عادتونه، فطري منظرونه، ځناور او مرغان

**یادګیرنه**:

(دَ سبقونو او نظمونو په لیک او انتخاب کښې دې دَ ژبې دَ صحت، دَ خپلې خاورې او ثقافت سره دَ تړون خاص خیال وساتلے شي)

# دَ څلورم جماعت دپاره تجويز کړي شوي

## عنوانات/موضوعات

۱. **سيرت (دوه سبقونه)**

(الف) سيرت النبي (صلی الله عليه و آله وسلم) اخلاق او دَ وعدې پوره کول.

(ب) پښتانهٔ اولياء — (کاکاصاحب رح او ميا عمر رح صاحب دَ ژوکنو)

۲. تاريخ (څلور سبقونه)

(الف) پښتانهٔ مشران — شېر شاه سوري يا احمد شاه ابدالي

(ب) مشهورې ښځې — ملالۍ يا بي بي حليمه

(ج) امامان صاحبان — امام ابوحنيفه رح

(د) صوفي شاعر — عبدالرحمن بابا رح

۳. **پاکستان (دَ پښتنو سيمه)** څلور سبقونه

(الف) دَ ازادۍ اتلان — (يو مضمون چې دَ ازادۍ دَ تحريک سره تړليو اتلانو مختصره تذکره پکښې شوې وي).

(ب) دَ ازادۍ شهيدان — (قيصه خانۍ، ټکر، سپين تنګي او بابړه)

(ج) زمونږ ثقافت — (خاوره، ژبه، لباس، رسمونه رواجونه او مېلې)

(د) زمونږ نخښې نښانې — (مذهبي او قومي دستورې)

٤ **ملغلري او لالونه** (**پندونه**) (يو سبق)

پوهان او عالمان: (دَ پوهانو دَ حکمت خبري. دَ هري ورځي لاندي دَ عالم نوم. دَ خوشحال خان خټک او رحمن بابا پندونه)

٥ **قيصې** (پينځهٔ سبقونه)

اولسي قيصې. (اخلاقي. اسلامي) سبلګري: دَ سوات وادۍ. دَ کاغان وادۍ يا يو بل ځائے سېل. اصلاحي قيصې. دَ سګرېټ نوشۍ خلاف ډرامګۍ/خاکه. په ځان تېر شوي واقعات (آپ بيتي). روپۍ. کپړه کتاب وغيره.

٦. **نظمونه** (شپږ)

حمد . نعت، منظرونه، ملي سرودونه، مزاحيه نظمونه او اړونه.

٧. **کلے اولس** (يو سبق)

ښهٔ وګړے: رضاکار

خدمت خلق: دَ يو بل مرسته کول

دَ ماحول صفائي: ابادي، صحت او صفائي

٨. **متفرق** (دوه سبقونه)

خطونه او لطيفې

## ځنې تجويز شوې مشغلې

1. د تېرو کلاسونو کار په اوچت معيار سره (د لغت د استعمال طريقې)
2. د سکولونو د طالب علمانو تر مينځه قلمي دوستي
3. د امروزه مشغلو ريکارډ ساتل
4. د نورو لفظونو او محاورو فهرست د الف با په ترتيب جوړول
5. يو شان هم معنې، اپوټه، (متضاد) او د هم قافيه لفظونو په مقابله کښې برخه اخستل
6. د اخبارونو تراشې (کټېنګز) او موسمي رپورټونه جمع کول.
7. د خپلې خوښې د کتابونو نمونه، د خوښې نظم او نثر جمع کول.
8. په مقصدي او اخلاقي ډرامو کښې برخه اخستل.
9. په سائن بورډ د ټرېفک نخښې او په اولسي ځايونو کښې ليکلې شوې اعلانونه لوستل.

## دَ څلورم جماعت دپاره قواعد

1. اسم، فعل او صفت (تعارف)

2. دَ فعل ، فاعل او مفعول دَ تعلق (تړون) نه خبرېدل

3. دَ اسم صفت عملي استعمال

4. متضاد ، هم قافيه او مترادف، واحد ، جمع، تذکير او تانيث

5. دَ محاورو استعمال

**يادګيرنه**

دَ قواعدو اصول دي دَ تخليقي مشقونو په شکل کښې په درسي کتاب کښې په تفصيل سره شامل کړے شي

# دَ پينځم جماعت دپاره تجويز کړي شوي

## عنوانات/موضوعات

۱ **سيرت** (دري سبقونه)

(الف) سيرت النبي صلی الله عليه و آله وسلم (عفو درگزر. حسن سلوک)

(ب) پاکې بيبيانې (حضرت خديجه رض)

(ج) صحابه کرام رض (دَ قربانۍ جذبه. حضرت عثمان غني رض)

۲ **تاريخ اسلام** (څلور سبقونه)

(الف) مشران (ربښتونے خوب. نور الدين زنگي. محمد بن قاسم)

(ب) مشهورې ښځې (دَ بهادرۍ قيصه)

8

(ج) امامان صاحبان (امام مالک رح . امام جعفر صادق رح)

(د) دَ عالم اسلام يووالے (امت مسلمه. (سيد جمال الدين افغاني)

۳ **زمونږ وطن** (پينځهٔ سبقونه)

(الف) دَ ازادۍ تحريک خان عبدالغفار خان (باچا خان)

(ب) مشران خوشحال خان خټک

(ج) شهيدان کيپټن کرنل شير خان شهيد نشان حيدر

(د) يادگاري عمارتونه دَ عبدالرحمٰن بابا مقبره

(ه) ژوند ژواک — دَ فخـر ور واقعــې، روايتونــه، دوودســـتور، مبلمستيا، غم ښادي، جرګه مرکه او تنواتې

٤. **ملغلرې او لالونه** (يو سبق)

(الف) پوهان او عالمان — دَ حکمت خبرې دَ پوهانو او عالمانو دَ نامو سره

٥. **قيصې** (پينځهٔ سبقونه)

(الف) اولسي قيصې — تخيلي، اخلاقي، اسلامي، سپل ګري، دَ ګنج پښتو حکايتونه، دَ رومي او سعدي نه موزون حکايتونه

(ب) اصلاحي قيصې — قلم، مچ، ماشے وغيره

(ج) مکالمه، ډرامګی (تمثيل)

(د) په ځان تېر شوي حالات (آپ بيتي)

٦. **نظمونه** (دَ شپږو نه تر اتو پورې)

حمد، نعت، منظرونه، ملي سرودونه، مزاحيه نظمونه او اړونه

(دَ زړو شاعرانو نظمونه او ملي سرودونه)

٧. **کلے اولس** (دوه سبقونه) — ښهٔ وګړے: سکاوټ، دَ معاشرې کارکنان: کسب ګر خدمت خلق: يو بل سره ښېګړه کول. دَ چاپېر چل صفائي: ابادي صحت او صفائي.

٨. **متفرق** (دوه سبقونه) — درخواست، دَ کرک دَ مالګې دَ درنګ سفرنامه

## ځنې تجویز شوې مشغلې

1. په مقصدي او اخلاقي ډرامو (تمثیلونو) کښې برخه اخستل.
2. دَ بیت بازۍ، دَ دوېو/اړونو او ټکو جوړولو په مقابلو کښې شریکېدل.
3. دَ خوشخطۍ مقابلې کول
4. لوبې، په تصویرونو ټاپې لګول، سرخط جوړول، دَ لفظونو ذخیره او دَ جملو جوړولو مقابله
5. فلېش کارډونه، قافیې جوړول وغېره.
6. دَ ادب دَ مجلس تابیا کول
7. دَ شروع دَ څو جملو نه قیصې جوړول
8. انټرویو ورکول
9. دَ نورو صوبو دَ ماشومانو سره قلمي دوستي کول

## دَ پینځم جماعت دپاره قواعد

### ژبپوهنه او قواعد

1. دَ ساده ترکیبونو (مرکباتو) استعمال
2. دَ غائب، حاضر او متکلم ضمیرونو پېژندل
3. دَ اسم، فعل او ضمیر استعمال
4. دَ معرفې اسم
5. دَ اپوټه (متضاد)، مترادف او دَ هم قافیه لفظونو استعمال
6. واحد جمع او تذکیر او تانیث
7. دَ لُغت استعمال
8. محاورې او متلونه
9. دَ پښتو او اردو شریک لفظونه په نخښه کول

**یادګیرنه:**

دَ قواعدو اصول دې دَ تخلیقي مشقونو په شکل کښې درسي کتابونو کښې په تفصیل ځائے کړے شي.

# دَ شپږم جماعت دپاره تجویز کړي شوي

## عنوانات/موضوعات

۱. **قیصې** (پینځه سبقونه)

(دَ ایمانداري بدله. دَ نیکۍ بدله (دَ نورو په کار راتلل) محنت کښې عظمت دے (زراعت او صنعت) دَ ازادۍ په تحریک کښې دَ طالب علمانو برخه (دَ وخت پابندي) یوه داسې علاقائي قیصه چې دَ وطن دَ مشترکه قدرونو ترجماني پکښې شوې وي. خیالي قیصه. اولسي قیصه. قومي دستوري)

۲. **مضمونونه** (څلور سبقونه)

(دَ نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم سیرت (شفقت او سادګي) مجاهدین او دَ اسلام مشاهیر. حضرت سعد بن ابي وقاص رض (دَ قادسیه دَ جنګ متعلق) حضرت سمیه رض (دَ اسلام ورومبۍ شهیده) صوفیان او عالمان صاحبان (پیر بابا ، سید عبدالستار شاه باچا عرف باچا جان، حاجي محمد امین). دَ عالم اسلام یووالے. دَ پاکستان په حواله ( دَ پښتنو یوه سیمه)

۳. **دَ پاکستان مشران** (درې سبقونه)

(دَ قائد اعظم اقوال ((دَ طالب علمانو په حقله)). حافظ رحمت خان. سیده بشرٰي بېګم. دَ سمندر خان سمندر (پښتنې) یا دَ مهدي شاه مهدي باچا افسانې یا دَ خان میر هلالي دَ مضامینو نه په استفاده.)

۴. **دَ پاکستان شهیدان** (یو سبق)

(یو پښتون فوځي شهید (دَ نشان حیدر نه کم اعزاز لرونکے. سپاني/لانس نائیک/حوالدار/صوبېدار)

۵. **ادیبان او شاعران** (دوه سبقونه)

(امیر حمزه خان شنواري. عبدالغني خان)

۶. **نۀ هېرېدونکې واقعه** (یو سبق)

(یوه داسې واقعه چې دَ پښتنې سیمې قومي یاد تازه کوي)

۷. **عالمي مشران** (دوه سبقونه)

سائنس. تاریخ. ادب او دَ نورو مذهبونو مشهور شخصیات: ابوعلي سینا. سلطان صلاح الدین ایوبي. البېروني. ابن بطوطه. جابر بن حیان. ابن رشد. مارکوني)

۸. **پاکستان** (دوه سبقونه)

دَ پاکستان منظر: (دَ خپلې صوبې په حواله مثلاً چترال. نتیا ګلي. دَ کېلاش وادي. دَ خیبر دره. دَ کلیوال ژوند خوبۍ. دَ ماشومانو علاقائي لوبې (دَ پښتو اکېډمۍ دَ کتاب ګونه دې استفاده وشي.)

۹. **متفرق** (څلور سبقونه)

دَ چاپېرچل ناولتیا: (آلودګي) دَ ابادۍ دَ ترقۍ لارې. صحت او صفائي. کورنۍ چارې. سپېڅلي اخلاق. روداد. توقې ټقالې. دَ حکمت خبرې. مکالمه (دَ کتاب دپاره تجویز شویو موضوعاتو نه)

۱۰. **نظمونه** (دَ شپږو نه اتو پورې)

(حمد . نعت. ملي يووالے. وطن سره مينه. دَ قدرت نظارې. مزاحيه. اخلاقيات (همدردي. رښتونولي. ورورولي او مساوات. سخاوت وغيره) دَ اسلام لوړ والے. دَ محنت عظمت. ملي نغمې. دعا .)

**يادګيرنه**

دَ زړې او نوې شاعرۍ څنې.

دَ نظمونو سره تړول د برش سبقونه

# دَ اووم جماعت دپاره تجویز کړي شوي

## عنوانات/موضوعات

۱. **قیصې** (پینځهٔ سبقونه)

اخلاقي قیصې: (مرسته، ایثار او قرباني، دَ اجتماعي کامیابۍ جذبه او دَ مخلوق خدمت او دَ پښتنو دود دستور، دَ ازادۍ په تحریک کښې دَ زنانهٔ برخه، دَ ملک دَ نورو علاقو دَ داسې قیصې ترجمه چې دَ پاکستان دَ شریکو قدرونو ترجماني کوي، خیالي قیصې، اولسي قیصې)

۲. **مضمونونه** (درې سبقونه)

سیرت طیبه: صداقت او امانت، مجاهدین او اسلامي مشران، حضرت خالد بن ولید رض په جنګ موته کښې دَ مسلمانانو شمېر او دَ دشمن شمېر، مثالي سپه سالار، دَ جهاد جذبه، دَ نظم و ضبط اعلی مثال، صوفیان او عالمان، حضرت کاکاصاحبؒ، اصحاب باباؒ، حضرت مولانا محمد قاسم نانوتويؒ، مولانا عبدالقدوس.

۳. **دَ وطن مشران** (درې سبقونه)

دَ پاکستان دَ داسې مشرانو په حقله چې دَ ازادۍ په تحریک کښې ئې برخه اخستې وي.

٤. **ادیبان او شاعران** (دوه سبقونه)

(رحمٰن بابا، عبدالقادر خان خټک، معزالله خان مومند، عبدالحمید بابا، مولانا عبدالقادر، فضل حق شیدا، صاحبزاده محمد ادریس)

۵. **نۀ هېرېدونکې واقعه** (یو سبق)

(عجب خان اپریدے)

٦. **عالمي مشران** (دوه سبقونه)

(سائنس، تاریخ، ادب او په عالمي مذهبونو کښې شهرت لرونکیو شخصیتونو لکه: بوعلي سینا، فارابي، المسعودي، حکیم الرازي، جابر بن حیان (یو سبق)

گوتم بده، ډاکټر فلېمنگ، رائټ برادران، بهلول لودي) (یو سبق)

۷. **پاکستان** (دوه سبقونه)

(دَ پاکستان تحریک ۱۹٤۰-٤۷، دَ پاکستان منظرونه دَ نورو صوبو په حواله، دَ کلي او دَ ښار موازنه، لوبې)

۸. **متفرقات** (پینځۀ سبقونه)

(اولسي خېر ښېگړه: دَ مخلوق خدمت، زرعي تعلیم، دَ ژوند ژواک اداب، سفرنامه، روداد، خط/درخواست، دَ ډائرۍ یوه پاڼه، دَ پښتو ژبې او ادب علمي او تحقیقي ادارې، دَ قامي بېرغ (جنډې) ادب)

۹. **نظمونه** (اتۀ)

(حمد نعت، دَ وطن مینه، مظاهر او دَ قدرت منظرونه، قومي یووالے، مزاحیه، دَ اسلام لوړوالے دَ سمندر خان سمندر دَ ((توحید ترنگ)) نه څو بندونه یا ((دَ قرآن ژړا)) نه یا دَ سېد رسول رسا ((دَ قرآن پېغام)) نه څو بندونه، ملي نغمې، دعا)

# دَ اتم جماعت دپاره تجويز کړي شوي

## عنوانات/موضوعات

۱. **قيصې** (پينځهٔ سبقونه)

(اخلاقي قيصې. دَ انسانيت احترام. قول او فعل کښې مطابقت. اخلاقي جرأت. لوظ پوره کول. دَ ازادۍ په تحريک کښې دَ عالمانو برخه. دَ نورو صوبو دَ علاقو دَ داسې قيصو ترجمه چې دَ پاکستان دَ شريکو قدرونو ترجماني کوي. خيالي قيصې. اولسي قيصې)

۲. **مضمونونه** (درې سبقونه)

سيرت طيبه: معلم اخلاق. دَ اسلام مشران. حضرت بلال رض. حضرت خباب بن الارت رض. حضرت علي رض. حضرت زينب بنت علي رض. حضرت عمر بن عبدالعزيز. صوفيان او عالمان. پير روښان. اخون درويزه بابا. ميا عبدالحکيم. مولانا طاهر (خرواري بابا) مولانا عبدالحق. مولانا شمس الحق افغاني صاحب. شمس العلماء مير احمد شاه رضواني)

۳. **دَ عالم اسلام يووالے** (يو سبق)

(موتمر عالم اسلام)

٤. **مشران** (يو سبق)

(سيد اکبر شهيد، پير مانکي شريف)

٥. **دَ وطن مشهور شهيدان** (يو سبق)

(مېجر خادم حسېن شهید ستارهٔ جرأت، لانس نائیک سوار محمد حسېن/ لانس نائیک محمد محفوظ)

۶. **ادیبان او شاعران** (دوه سبقونه)

(خوشحال خان خټک، امیر حمزه خان شنواري، دوست محمد خان کامل مومند، اشرف مفتون، سېد رسول رسا، ماسټر عبدالکریم، سیده بشرٰي بېګم)

۷. **نه هېرېدونکې واقعه** (یو سبق)

دَ پښتنې خاورې سره تړلې یوه پېښه: (په مردان دَ باچا خان مارچ)

۸. **عالمي مشاهیر** (دوه سبقونه)

(ابن الهېثم، البېروني، اېډیسن، جارج سټیفن سن، بوعلي سینا، ابن خلدون)

۹. **پاکستان** (یو سبق)

(دَ پاکستان منظرونه: (دَ نورو صوبو په حواله)، دَ ښځو عالمي ورځ (دولسمه فروري)

۱۰. **متفرقات** (پینځهٔ سبقونه)

(دَ یو بل امداد کول: سکاوټنګ/ګرلز ګائیډ، فني تعلیم، مثالي طالب علم، کبډي/سکواش (دَ جهانګیر خان په حواله) موخه، دَ سائنسي ایجاداتو په حقله خوندوره قیصې، روداد، دَ صحافتي، نشریاتي ادارو په نوم خط، لطیفې او متلونه، دَ حکمت خبرې)

۱۱. **نظمونه** (اتهٔ)

(حمد، نعت، قومي یووالے، دَ وطن مینه، قدرتي منظرونه، مزاحیه، دَ اسلام لوړوالے، ملي نغمه، دعا)

# دَ قواعدو نصاب (جماعت وار)

**شپږم جماعت:**

- اسم (ضمیر) حرف او فعل (ساده مثالونه)
- په جمله کښې دَ فاعل، مفعول او فعل صحیح ترتیب (ساده مثالونه)
- دَ دوو اجزاو په یو ځائے کولو جمله جوړول.
- دَ سابقو او لاحقو عام استعمال.
- دَ اسم صفتونه، مذکر مؤنث او واحد جمع.
- دَ اسم نکرې قسمونه، (صرف درې) ظرف زمان او مکان.
- په درسي کتاب کښې دَ استعمال شویو محاورو او متلونو استعمال.
- دَ غلطو جملو صحیح کول.
- اعراب لګول او تلفظ. (دَ درسي کتاب په حواله)
- دَ شمسي او قمري حروفو پېژندنه.

- دَ جوړښت په لحاظ دَ اسم قسمونه، جامد، مصدر او مشتق.
- دَ فعل قسمونه (١) لازم او متعدي (٢) ماضي، حال او مستقبل، دَ جوړښت او زماني په لحاظ
- شخصي ضميرونه (دَ جوړښت په لحاظ)
- دَ اسمونو او ضميرونو سره دَ فعل مطابقت دَ جنس، شمېر او حالت په لحاظ
- دَ اپوټه (متضاد) او مترادف لفظونو مشقونه.
- دَ اسم صفت قسمونه (ذاتي او نسبتي)
- عام طور باندې غلط استعمالېدونکې جملې صحيح کول.
- دَ محاورو او متلونو استعمال (دَ درسي کتاب په حواله)
- دَ رموز اوقاف استعمال (سکته، قوسېن، تفصيليه)
- اعراب لګول او تلفظ (دَ درسي کتاب په حواله)
- دَ سابقو او لاحقو استعمال
- درخواست ليکل/خطونه ليکل.

**اتم جماعت:**

- دَ سابقو او لاحقو استعمال.
- دَ اسم صفت درجې (تفضيل نفسي. تفضيل بعض. تفضيل کُل)
- دَ معرفې او نکرې اسمونه
- فعل معروف او مجهول. دَ فعل ماضي قسمونه (مطلق. قريب. بعيد. شکيه. استمراري. شرطي. تمنائي)
- دَ حروف ربط استعمال (او. کۀ. چې. ولې. ځکه چې. دې دپاره. نو)
- مرکبات ناقص (مرکب اضافي. توصيفي. عطفي. جاري)
- مبداء خبر دَ فاعل او مفعول. دَ ساده اسميه جملې او ساده فعليه جملې پېژندنه.
- دَ محاورو استعمال
- عام طور باندې غلطې استعمالېدونکې جملې صحيح کول.
- مترادف. اپوټه (متضاد) او دَ هم اواز لفظونو مشق.
- دَ رموز اوقاف استعمال (واوېن. استعجابيه. قوسېن)
- عبارت په مناسبو ټوکړو کښې تقسيمول.

# دَ نهم جماعت دپاره تجويز کړي شوي

## عنوانات/موضوعات

۱. **مضمونونه** (درې سبقونه)

(چې په ثقافتي، اخلاقي او معلوماتي موضوعاتو مشتمل وي، دَ ژبې دَ صحت پکښې خاص خيال ساتلے شوے وي.)

۲. **قيصې** (دوه سبقونه)

(چې خپلې خاورې سره دَ مينې او نورو معاشرتي موضوعاتو سره تړون لري.)

۳. **ډرامه** (دوه سبقونه)

(په معاشرتي موضوع چې دَ ژبې دَ صحت سره سره په سپېڅلو مکالمو مشتملې وي.)

۴. **سفرنامه** (دوه سبقونه)

(چې دَ خپل وطن دَ خاورې او اولس سره دَ محبت رنګ پکښې جوت وي.)

۵. **افسانې** (دوه سبقونه)

(چې دَ عظيم مقصد دپاره پکښې دَ قربانۍ جذبه ښکاره وي او طالب علمانو دپاره دَ لوړ کردار نمونه وګرځي.)

۶. **سوانح نګاري** (يو سبق)

(په نامتو شخصياتو يو جامع مضمون چې دَ طالب علمانو دپاره دَ رهنمايۍ نمونه پکښې موجوده وي. دا شخصيات دې په نظر کښې وساتلے شي:

صاحبزاده ادریس. عبدالرحیم مجذوب. پرېشان خټک. ماسټر خان ګل. قلندر مومند. تقویم الحق کاکاخېل. اجمل خټک

۷. **طنزو مزاح** (دوه سبقونه)

(چې طالب علمانو ته په ټوقو ټوقو کښې د اعلی اقدارو درس ورکړي. ګچکول. خوارۀ تزاخهٔ. دَ تکل په تکل کښې. ګل زېری. تکل دسته)

۸. **پاکستان** (یو سبق)

(چې دَ خپل وطن تاریخي. ارتقائي او معاشرتي عکس پکښې موجود وي)

۹. **خطونه لیکل** (یو سبق)

(دَ امیر حمزه خان شنواري. مولانا عبدالقادر. ایاز داؤدزي دَ خطونو نه یو خط.)

۱۰. **شخصیات** (درې سبقونه)

(الف) دَ صحابه کرامو یا نورو بزرګانو ذکر چې دَ طالب علمانو دَ دیني شعور او دَ اخلاقي جرات نمونه وي. دَ پاکستان شهیدان او نامتو پښتانهٔ

(ب) دَ پاکستان دَ نورو ژبو شاه عبداللطیف بټهائي. خواجه فرید الدین ګنج شکر. مست توکلي

(ج) دَ پښتو نامتو لیکونکي مولانا عبدالسلام اشیزے. اخونزاده عبدالعلي کاکړ

۱۱. **نظمونه** (لس)

(حمد. نعت. وطن. اخلاقي او چې انسان سره پکښې دَ محبت درس موجود وي.)

صاحبزاده ادریس. عبدالرحیم مجذوب. پرېشان خټک. ماسټر خان ګل. قلندر مومند. تقویم الحق کاکاخېل. اجمل خټک

۷. **طنزو مزاح** (دوه سبقونه)

(چې طالب علمانو ته په ټوقو ټوقو کښې د اعلی اقدارو درس ورکړي. ټېچکول. خوارهٔ تراخهٔ. دَ تکل په تکل کښې. ګل زېرې. تکل دسته)

۸. **پاکستان** (یو سبق)

(چې دَ خپل وطن تاریخي. ارتقائي او معاشرتي عکس پکښې موجود وي)

۹. **خطونه لیکل** (یو سبق)

(دَ امیر حمزه خان شنواري. مولانا عبدالقادر. ایاز داؤدزي دَ خطونو نه یو خط.)

۱۰. **شخصیات** (درې سبقونه)

(الف) دَ صحابه کرامو یا نورو بزرګانو ذکر چې دَ طالب علمانو دَ دیني شعور او دَ اخلاقي جرات نمونه وي. دَ پاکستان شهیدان او نامتو پښتانهٔ

(ب) دَ پاکستان دَ نورو ژبو شاه عبداللطیف بټهائي. خواجه فرید الدین ګنج شکر. مست توکلي

(ج) دَ پښتو نامتو لیکونکي مولانا عبدالسلام اشیزے. اخونزاده عبدالعلي کاکړ

۱۱. **نظمونه** (لس)

(حمد. نعت. وطن. اخلاقي او چې انسان سره پکښې دَ محبت درس موجود وي)

۱۲. **غزلونه** (پينځلس غزلې)

دَ دېو شاعرانو دَ کلام نه چون شوي غزلې. چې په طالب علمانو کښې دَ علامت دَ پېژندګلو او دَ حسن دَ پاکيزګۍ احساس پېدا کړي.

۱۳. **متفرقات**

شعري اصطلاحات، دَ تشبيه، استعارې، کنايې او مجاز مرسل مختصره پېژندګلو، ادبي اصطلاحات، شعر، قافيه، رديف، مطلع، مقطع، نظم او غزل.

۱۴. **قواعد**

متضاد، مترادف، سابقې، تذکير او تانيث، واحد جمع، اعراب لګول، دَ امروزه محاورې صحيح استعمال.

**يادګيرنه:**

دَ هر سبق اخر ته په مشق کښې داسې سوالونه ورکول، چې لوستے سبق دَ طالب علمانو په صحيح طريقه په ذهن کښې کښېني او ورسره قواعد هم زده کړي.

# دَ نهم جماعت نثر ليکونکي

(لهٔ دې نثر ليکونکيو دَ نثري ليکونو نه دې استفاده وشي)

- مولوي احمد
- منشي احمد جان
- مير احمد شاه رضواني
- ماسټر عبدالکريم
- بهادر شاه ظفر کاکاخېل
- سيد رسول رسا
- امير حمزه خان شنواري
- غني خان
- اجمل خټک
- قلندر مومند
- همېش خليل
- سعد الله جان برق
- افضل رضا
- سيال کاکړ
- ابوالخير ځلاند
- ډاکټر پروېز مهجور خوېشکي
- فاروق سرور

# دَ نظم او غزل شاعران

(دَ نظم او غزل دپاره دې لاندينى شاعران په نظر کښې وساتلے شي)

| دَ غزل شاعران | دَ نظم شاعران |
|---|---|
| طاهر کلاچوي | • فضل محمود مخفي |
| مطيع الله قريشي | • عبدالاکبر خان اکبر |
| شمس القمر انديش | • عبدالغني خان |
| ډاکټر اسرار | • راحت زاخېلي |
| ډاکټر محمد اعظم اعظم | • سيد رسول رسا |
| اکرام الله ګران | • اجمل خټک |
| رومان ساغر | • قلندر مومند |
| سيد عابد شاه عابد | • ايوب صابر |
| م ر شفق | • حافظ خان محمد |
| درويش دراني | • قمر راهي |
| محمد اقبال اقبال | • مراد شنواري |
| صاحب شاه صابر | • محمد نواز خټک |
| مشتاق مجروح يوسفزے | • فوزيه انجم |
| ډاکټر محمد زبير حسرت | • ډاکټر سلمیٰ شاهين |
| اسماعيل ګوهر | • حسينه ګل |

# دَ پښتو دَ نهم جماعت په کتاب کښې

## دَ سبقونو تقسيم

| | |
|---|---|
| پاکستان | ۱ |
| مضمونونه | ۳ |
| قيصې | ۲ |
| ډرامې | ۲ |
| افسانې | ۲ |
| شخصيات | ۳ (دَ اسلام او دَ عالمي تاريخ مشران. دَ پاکستان شهيدان او مشهور پښتانه) |
| طنزومزاح | ۲ |
| سفرنامه | ۱ |
| مکتوب نګاري | ۱ |
| سوانح نګاري | ۱ |
| ټول سبقونه | ۱۸ |
| دَ نثر ټولې صفحې | ۷۵ـ۷۰ |

| | |
|---|---|
| دَ نظم ټولې صفحې | ۲۰ |
| دَ غزل ټولې صفحې | ۱۵ |
| دَ مشهورو شاعرانو او | |
| اديبانو لنډه پېژندګلو | ۵ـ۴ |
| دَ ټول کتاب ضخامت | ۱۱۵ـ۱۱۴ |

# دَ پښتو درسي کتاب دَ لسم جماعت دپاره

## موضوعات او عنوانات

۱. **شخصیات** (درې سبقونه)

(دَ عالمي تاریخ دَ اکابرو. دَ پاکستان دَ شهیدانو او نامتو پښتنو مشرانو ذکر. چې طالب علمانو دپاره دَ دیني شعور او دَ اخلاقي جرات نمونه وي)

۲. **سیرت النبي صلی الله علیه و اله وسلم** (یو سبق)

(دَ نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم دَ ژوند په واقعه چې دَ امن او سلامتیا پېغام پکښې ورکړے شوے وي. چې دَ اسلام اصلي مفهوم طالب علمانو ته ښکاره شي)

۳. **ناول** (یو سبق)

(په چاپ شویو ناولونو کښې دَ یو نه داسې برخه را اخستل چې دَ ناول مرکزي خیال پکښې ښکاره وي او دَ طالب علمانو کردار په صحیح معنو کښې جوړوي.)

٤. **داستان** (یو سبق)

(په زړو داستانونو کښې دَ یو نه داسې برخه را اخستل، چې طالب علمانو له دَ مهماتو دَ سر کولو دپاره دَ حوصلې درس ورکوي.

٥. **تکل** (یو سبق)

(چې دَ سپېڅلې ژبې یوه اعلی نمونه وي او طالب علمان تر ېنه دَ مضمون او تکل تر منځه فرق محسوس کړي.)

۶. **قیصې** (دوه سبقونه)

(چې د معاشرتي، معاشي او اخلاقي مسائلو سره تعلق لري)

۷. **ډرامه** (یو سبق)

(یوه ډرامه چې د لوړ مقصد دپاره د قربانۍ جذبه وپاروي)

۸. **سفرنامه** (یو سبق)

(چې د خپل وطن د علاقو سره د محبت د جذبې د پارولو لار پکښې اختیار کړې شوې وي)

۹. **افسانې** (دوه)

(چې په طالب علمانو کښې د انسان سره د مینې، محبت او قربانۍ جذبات پیدا کړي)

۱۰. **طنزومزاح** (دوه سبقونه)

(چې د معاشرې په ناولیو کردارونو په ټوقو ټوقو کښې تنقید کوي او اصلاحي اړخ پکښې موجود وي)

۱۱. **خطونه لیکل** (دوه سبقونه)

(د مولانا عبدالقادر او د حمزه شنواري د خطونو نه دوه خطونه چې د طالب علم دپاره د خط لیکلو زده کړه ترې کیږي)

۱۲. **مضمونونه او مقالې** (دوه سبقونه)

(چې د موجوده دور د مسائلو او سائنسي معلوماتو سره تعلق لري)

۱۳. **نظمونه**

(حمد، نعت، وطن، اخلاقي شاعري چې د نظم د مختلفو اقسامو سره تعلق لري)

۱٤. **متفرق**

(شعري اصطلاحات، قصيده، مثنوي، رباعي، قطعه، مرثيه، تبه، چاربېته)

۱٥. **قواعد**

(دَ اسم قسمونه، اسم معرفه، اسم نکره، مصدر، مفرد، مرکب، اسم علم، مشتق، جامد، ضمير، اشاره، موصول، دَ فعل قسمونه، ماضي، حال، مستقبل، مضارع، امر او نهي، لازم او متعدي، معروف او مجهول)

# دَ لسم جماعت دَ کتاب دپاره

# دَ نثر ليکونکيو فهرست

(دَ مضمونونو دپاره دي دَ لاندينيو ليکونکيو دَ ليکونو نه انتخاب وشي)

- ❖ عبدالخالق خليق
- ❖ مولانا عبدالقادر
- ❖ دوست محمد خان کامل مومند
- ❖ تقويم الحق کاکاخېل
- ❖ قلندر مومند
- ❖ پرېشان خټک
- ❖ گل افضل خان
- ❖ ډاکټر محمد اعظم اعظم
- ❖ ډاکټر محمد همايون هما
- ❖ ارباب رشيد احمد خان
- ❖ افضل رضا
- ❖ داور خان داؤد
- ❖ فهم دل راهي
- ❖ نور شاه جهان انور
- ❖ ډاکټر اسرار
- ❖ عبدالقدوس درانے
- ❖ ډاکټر يار محمد مغموم
- ❖ نظر محمد نظر پانيزے

# دَ لسم جماعت دَ کتاب دپاره

## دَ شاعرانو فهرست

(دَ نظم او غزل انتخاب دې دَ لاندينيو شاعرانو دَ کلام نه وشي)

| دَ نظم شاعران | دَ غزل شاعران |
|---|---|
| خوشحال خان خټک | علي خان |
| سمندر خان سمندر | امير حمزه خان شنواري |
| دوست محمد خان کامل مومند | قلندر مومند |
| عبدالعلي اخونزاده | اکرام الله ګران |
| فضل احمد غر | ډاکټر محمد اعظم اعظم |
| ايوب صابر | اسرار دَ طورو |
| عبدالرحيم مجذوب | اسماعيل ګوهر |
| سليم راز | درويش دراڼے |
| الف جان خټکه | سيد خير محمد عارف |
| رحمت شاه سائل | عبدالرؤف زاهد |
| نورالبشر نويد | همايون همدرد |

# دَ پښتو دَ لسم جماعت په کتاب کښې

## دَ سبقونو تقسیم

| | |
|---|---|
| ۱. سیرت النبي صلی الله علیه و آله وسلم | ۱ |
| ۲. داستان | ۱ |
| ۳. ناول | ۱ |
| ٤. ډرامې | ۲ |
| ٥. افسانې | ۲ |
| ٦. شخصیت نګاري | ۳ |
| ۷. طنزومزاح | ۲ |
| ۸. سفرنامه | ۱ |
| ۹. مکتوب نګاري | ۲ |
| ۱۰. مضمونونه | ۳ |
| ټول سبقونه | ۱۸ |

سائز 18 x 23 /8

| | |
|---|---|
| دَ نثر ټولې صفحې | ۷۰_۷۵ |
| دَ نظم ټولې صفحې | ۱۵ |
| دَ غزل ټولې صفحې | ۱۱ |
| ټولې صفحې | ۱۲۰_۱۲۸ |

**یادګیرنه:**

دَ نثر هر سبق سره مشق لازمي دے. چې پکښې دَ سبق متعلق سوالونه او قواعد شامل دي. پېژندګلو دَ مشهورو شاعرانو ادیبانو مختصر غوندې حالات.

# دَ پښتو درسي کتاب يولسم جماعت دپاره

# موضوعات او عنوانات

۱. **دَ پښتو زوړ ادب** (زوړ نثر او نوے نثر)

(دَ بايزيد انصاري (پير روښان) نه تر خوشحال خان خټک پورې، دَ خوشحال خان خټک نه تر شلمې صدۍ دَ ابتدا. فني ارتقاء او معاشرتي رجحانات)، دَ نورو ژبو دَ فنپارو وړومبۍ ترجمې چې دَ قامي يووالي په لور رهنمائي کوي)

۲. **افسانه او ډرامه** (**طنزومزاح**)

(دَ هر يو صنف نه يو يو سبق)

۳. **دَ پښتو نوے نظم**

(قومي، اخلاقي، مزاحيه، منظريه، واقعاتي او بيانيه نظمونه چې قومي يووالے، ملکي استحکام او دَ وطن مينه تقويه کوي. په موجوده وخت کښې دَ ازاد نظم دَ ارتقائي سفر يو څو نمونې شاملې کړئ)

۴. **نوے غزل**

(تغزل، ژبه، لنډوالے، اخلاقيات، دَ معاشرتي مسئلو په حقله اظهار خيال او دَ نوې شاعرۍ اصطلاحات)

### ۵. اولسي ادب

(دَ پښتو اولسي ادب سره دَ طالب علمانو پېژندګلو، په خصوصي توګه دَ ټپې، چاربېتې، نيمکۍ او دَ کسرونو تعارف)

**زوړ ادب ( دَ نثر برخه)**

| **دَ مضمونو فهرست** | **کتابونه** |
|---|---|
| بايزيد انصاري (پيرروښان) | خيرالبيان |
| اخون درويزه بابا | مخزن الاسلام |
| خوشحال خان خټک | دستار نامه |
| ګوهر خان خټک | قلب السير |
| افضل خان خټک | تاريخ مرصع |
| مولوي احمد | ګنج پښتو |
| منشي احمد جان | دَ قصه خانۍ ګپ |
| مير احمد شاه رضواني | بهارستان افغاني |

يادګيرنه:

دَ دې نه پينځۀ سبقونه اخستل پکار دي.

**ترجمې:**

| | |
|---|---|
| عبدالقادر خان خټک | ګلدسته |
| میا حسیب ګل کاکاخېل | نقش نګین (مراة العروس) |
| عرب خان عرب | دَ غنمو دانه |

یادګیرنه:

دَ دې نه درې سبقونه اخستل پکار دي.

دَ لاندینیو مصنفینو دَ لیک نه دې انتخاب وکړے شي:

**افسانه:**

راحت زاخېلي (کُنډه جینی)، قلندر مومند (ګجرې) ګل افضل خان (لوړ لیکوال) زیتون بانو (ژوندي غمونه) طاهر اپریدي (لاره کښې ماښام) یوه افسانه به منتخب کول وي.

**ډرامه:**

دَ عبدالاکبر خان اکبر (جونګړه) دَ ډاکټر محمد اعظم اعظم ((وادهٔ)) دَ ډاکټر محمد همایون هما (فېصله). صرف یوه ډرامه منتخب کول دي.

**طنزومزاح:**

عبدالله جان مغموم، سعدالله جان برق، ډاکټر اسرار، ډاکټر محمد همایون هما، مشتاق مجروح یوسفزے.

**دَ نظم برخه (نوٹ):**

دَ داسې نظمونو انتخاب دې وشي چې طالب علمان پرې دَ نظم صنفونه وپېژني، لاندیني صنفونه او موضوع ګانې په نظر کښې وساتئ:

(الف) قومي نظمونه
(ب) اخلاقي نظمونه
(ج) منظریه نظمونه
(د) واقعاتي نظمونه
(د) بیانیه نظمونه
(و) مزاحیه نظمونه

دَ کلام خوښولو دپاره لاندیني شاعران په نظر کښې وساتئ:

عبدالخالق خلیق، ولي محمد طوفان، میا سید رسول رسا، صاحبزاده محمد ادریس، فضل حق شیدا، عبدالغني خان، ایوب صابر، اجمل خټک، مراد شنواری، قلندر مومند، قمر راهي، س.ب.ب، عبدالرحیم مجذوب، ډاکټر امین الحق امین، همېش خلیل، ایاز داؤدزے، رحمت شاه سائل، امین الله داؤدزے، پیرګوهر، ماسټر شېر افضل، حمد الله جان بسمل، اکمل لېونے، داد محمد دلسوز.

**بهرنے ادب**

(شاعري + پښتو کښې ترجمه شوي نظمونه) مثلاً ټیګور، خلیل جبران او څنې نور شاعران)

**دَ پښتو نوے غزل**

دَ لاندینیو شاعرانو دَ کلام نه دې انتخاب وکړے شي:

امیر حمزه خان شنواري، طاهر کلاچوي، صاحبزاده فیضي، قلندر مومند، لعل زاده ناظر شنواري، رحمت الله درد، عبدالستار عارف خټک، فیض الله فیض، ډاکټر محمد اعظم اعظم، خیبر اپریدے، منتظر بیټنے، غازي سیال، مطیع الله قریشي،

ډاکټر محمد همایون هما، فوزیه انجم، سلمٰی شاهین، ډاکټر راج ولي شاه خټک، محمد اسلام ارماني، سید عابد شاه عابد. خان بهادر حسرت، ډاکټر یار محمد مغموم، اکرام الله ګران، محمد اقبال اقبال، سید محمود ظفر، شمس القمر اندېش، درویش درانی، سعید ګوهر، مجید الله خلیل، صاحب شاه صابر، ډاکټر پرویز مهجور خویشکي، محب الله شوق، قیصر اپریدے، ډاکټر محمد زبیر حسرت، فیض الوهاب فیض، اباسین یوسفزے.

**اولسي ادب:**

په دې حقله دې لاندیني شاعران په نظر کښې وساتلے شي چې دَ عوامي شاعرانو هم په کتاب کښې مناسبه نمائندګي وشي:

ملا نعمت الله، ملا احمد جان، محمد فیاض خټک، باجوړے استاذ، بادشاه ګل استاذ، علي حیدر جوشي، نواب خان اخون، عبدالله استاذ، مرزا زخمي جګر، سید اکبر صابر، عبدالواحد ټیکدار، احمد دین طالب، میا محمد زمان، ارسلا خان اخون، عبدالمتین مندنړ، جمشید دَ ټوپۍ، اخون میر حسن احسن.

## دَ یولسم جماعت دپاره قواعد

تشبیه، استعاره، تلمیح، مطلع، مقطع، قافیه او دَ ردیف مشق او مثالونه، تذکیر او تانیث (غیر حقیقي) روداد. مکالمه/روزنامچه، درخواست/رسید، تلخیص، ضمیمه

# دَ کتاب دَ ترتیب او تدوین دپاره سفارشونه

(دَ یولسم او دولسم جماعتونو دپاره به جدا جدا کتابونه وي)

**تخصیص:**

| | |
|---|---|
| سائز | 20 x 30/8 |
| کرښې | په یو مخ دپرش |
| ضخامت | دَ ۱۸۰ نه تر ۲۰۰ مخونو |

# دَ پښتو درسي کتاب دولسم جماعت دپاره

# موضوعات او عنوانات

۱. **دَ پښتو نوے ادب**

(۱)مضمونونه: قامي، اخلاقي، ادبي، معاشرتي، سائنسي

(۲) افسانې

(۳) ډرامې

(٤) سفرنامې

(٥) طنزومزاح

(٦) نوې ترجمې.

۲. **دَ پښتو زوړ نظم او غزل**

(الف) دَ روښانيانو دور (تصوف، مذهبي رجحانات، دَ پښتو عروضي شاعري دَ ارتقائي مرحلو اندازه)

(ب) دَ خوشحال خان خټک نه تر کاظم خان شېدا دَ مختلفو مکتبونو او دَ مختلفو صنفونو نمائندګي او وضاحت.

(ج) شلمه صدي دَ ازادۍ تحريک نه تر ازادۍ

### ۳. اولسي ادب

ټپه. چاربېته. بدله. نیمکۍ. بګټۍ. نقلونه. متلونه.

### ٤. مختلف شعري صنفونه

مرثیې. قصیدې. مثنوي. دَ کسرونو او غاړو نه موزون انتخاب او دَ نظم دَ دې صنفونو دَ نورو رجحاناتو نه دَ طالب علمانو خبرول.

### ٥. مضمونونه

(الف) قومي او ملي مضمونونه (ب) ادبي مضمونونه (ج) علمي مضمونونه (د) تاریخي مضمونونه چې تعلق ئې تاریخ اسلام. تاریخ پاکستان او دَ علاقائي تاریخ سره وي. (ه) دَ ناولتیا (آلودګۍ) او دَ انساني حقونو په حقله مضمون دې ولیکلے شي.

دَ لاندینیو مصنفینو نه دَ څنو مضمونونو انتخاب دې وکړے شي:

مولانا عبدالقادر، قاضي عبدالحلیم اثر. دوست محمد خان کامل، حافظ محمد ادریس. سید انوار الحق. امیر حمزه خان شنواري. میا سید رسول رسا. پروفیسر نصیر الدین طالب. قلندر مومندَ. محمد نواز طائر. عبدالرؤف نوشهروي. تقویم الحق کاکاخېل. پرېشان خټک. عبدالکافي ادیب. میا عنوان الدین کاکاخېل. سیال کاکړ. ډاکټر محمد اقبال نسیم خټک. ډاکټر راج ولي شاه خټک. ډاکټر پرویز مهجور. ډاکټر یار محمد مغموم. سراج الاسلام سراج. طاهر بخاري.

**یادګیرنه:**

دَ ټولو مضامینو شمېر دې لهٔ لسو زیات نهٔ وي.

### ۵ افسانه

د لاندېنيو افسانه نګارانو د افسانو نه دې انتخاب وکړے شي:

راحت زاخېلي، نادر خان بزمي، قلندر مومند، مهدي شاه مهدي، ارباب رشيد احمد خان، طاهر اپريدے، شېرين زاده خدوخېل، ډاکټر محمد زبير حسرت، نور الامين يوسفزے، فاروق سرور، عظمت هما، عصمت بي بي.

### لنډه کيسه

له دې افسانه نګارانو نه دې د څلورو افسانو انتخاب وکړے شي.

### ۷ ډرامه

د لاندېنيو مصنفينو د څنو ډرامو نه دې انتخاب وکړے شي خو د موضوع په لحاظ دې د تنوع خاص خيال وساتلے شي چې په دې برخه کښې تاريخي او اصلاحي ډرامې راشي:

امير حمزه خان شنواري، سيد رسول رسا، ايس اے رحمان کاکاخېل، سعدالله جان برق، سمندر خان سمندر، رضا مهمند ي، ډاکټر محمد اعظم اعظم، افضل رضا، ګل افضل خان، خالق داد امېد، ډاکټر محمد همايون هما، نورالبشر نويد.

### ۸ طنزومزاح

د لاندېنيو مصنفينو نه دې ټوکو ټکالو څنو د ليک انتخاب وکړے شي:

سيد تقويم الحق کاکاخېل، عبدالغني خان، ډاکټر اسرار، حمدالله جان بسمل، مشتاق مجروح يوسفزے.

۹. **سفرنامه** (دَ یوې انتخاب دې وشي)

دَ لاندینیو مصنفینو دَ لیک نه دې دَ څنو انتخاب وکړے شي:

عبدالاکبر خان اکبر، میا اکبر شاه، سیده قانته بیګم، نصر الله خان نصر

۱۰. **زوړ نظم او غزل**

(دولس نظمونه او اتلس غزلونه دې منتخب کړے شي)

مرزا خان انصاري، دولت لواڼے، مخلص، کریم داد، خوشحال بابا، اشرف خان هجري، عبدالرحمان بابا، عبدالقادر خان ختک، سکندر خان ختک، صدر خان ختک، مصري خان ګګیاڼے، سعید ختک، بابو جان، عبدالحمید بابا، خواجه محمد بنګش، معزالله خان مومند، کاظم خان شیدا، یونس، میا نعیم، پیر محمد کاکړ، احمد شاه بابا، حافظ الپورے، علي خان، محمدي صاحبزاده، قنبر علي خان، قاسم علي اپریدے، عبدالعظیم رانیزے، شاد محمد خان.

۱۱. **شعري صنفونه**

(دَ ټولو صنفونو نه دَ یو یو صنف دَ مختلفو شاعرانو انتخاب کول پکار دي. دَ اسان نه ګران پله دَ اصولو مطابق)

رباعیانې، قصیدې، مثنوي، مرثیې، تضمین وغیره. په دې حقله دې دَ لاندینیو شاعرانو دَ کلام نه فائده واخستې شي:

فضل احمد غر، امیر حمزه خان شنواري، اجمل ختک، سمندر خان سمندر، صنوبر حسین مومند، سید رسول رسا، شیر محمد مینوش، الف جان ختکه، محمد دین مقید، پریشان ختک، یونس خلیل، طالب رشید، سیده بشرئ بیګم، غني خان، قلندر مومند، ډاکټر سلمئ شاهین، حسینه ګل تنها، خوشحال بابا، عبدالقادر خان ختک، معزالله مومند، صاحبزاده محمدي، صدر خان ختک. اشرف خان هجري، عثمان، عبدل، غفور، شیخ عیسئ مشواني، خواجه محمد بنګش، سعید ختک، کاظم خان

شیدا، عبدالحمید مومند، بېدل، کامګار ختک، علي خان، پیر محمد کاکړ

۱۲. **قواعد**

دَ فاعل او مفعول سره دَ فعل مطابقت

رموز اوقاف (دَ امدادي افعالو په توګه څو مصدرونه)

خط/ په خان تېر شوي حالات (ژوندي پېښې)

# دَ درسي كتابونو دَ مؤلفينو دپاره

## هدايات

مؤلفين دې دَ كتاب دَ ترتيب په وخت دَ قومي او نصابي كمېټۍ دَ پښتو دَ تعين كړې شويو قومي او تدريسي پښتو ادب سره تړلي مقصدونه نظر كښې ولري.

- دَ مضمونونو په چوڼ كښې دې دا خبره په نظر كښې وساتي چې څۀ خبره پكښې دَ اسلام او نظريه پاكستان منافي نۀ ده.
- دَ منتخبو مضمونونو موضوعات دې رنګارنګ او له اثره ډک وي او په ادبي لحاظ دې دَ اعلى قدرونو حامل وي.
- دَ داستان په اقتباسونو كښې دې تسلسل وي او دَ يوې قيصې اړخ دې نظر كښې وساتي.
- دَ ناول په اقتباسونو كښې دې هم كامليت تر نظره وساتي. زړو سره سره دې نوي ناولونه هم ضرور شامل كړے شي.
- دَ ناولونو اقتباسونو او دَ افسانو په چوڼ كښې دې ادبي ارزښت له فوقيت وركړے شي خو اخلاقي او نظرياتي اړخونه دې نظر كښې ولري.
- دَ تكل زړې او نوې نمونې دې متعارف كړے شي چې ادبي او فكري وي.
- دَ خطونو په چوڼ كښې دې دَ تازګۍ خوا تر نظره وي، خط دې مقصدي وي.
- دَ نظم برخه كښې دې دَ صنفونو او موضوعاتو دَ يكسانيت نه ډډه وكړے شي او ټول صنفونه دې متعارف كړے شي.

- دَ مضمونونو، غزلونو او نظمونو چونړ دي دَ مجوزه ليکونکيو او شاعرانو دَ کتابونو نه، نيغ په نيغه وشي او دې کښې دې هم مستندو برخو له اهميت ورکړے شي. دَ مآخذ حواله دې لازماً ورکړے شي.

- دَ منتخباتو دَ ليکونکيو لنډه شان پيژندګلو دې په شروع کښې ورکړے شي. دَ پيدائش او وفات هاغه تاريخونه دې درج کړے شي چې دَ ګڼو محققينو پرې اتفاق وي.

- دَ درسي کتاب په تدوين او ترتيب کښې دې دَ قومي نصابي کميټۍ يو يا دوه غړي دَ مؤلفينو په مجلس کښې شامل کړے شي.

- کتاب کښې چې چرته دَ هندسو استعمال وي نو په پښتو دې وليکلے شي.

- په عصري ترقيو او وسائلو به مؤلفين خپله مضمون ليکي يا به ئې په ماهرينو ليکي، مطبوعه مضمونونه هم کتاب کښې شاملولے شي. عصري مسئلو کښې تعليم ماحوليات، تعليم اباديات، منشيات او په عصري ترقيو کښې په کمپيوټر يا بله موضوع بحث کيدے شي.

- دَ منتخباتو نه دې طالب علمان دا تاثر واخلي چې پښتو ژبه زمونږ تاريخي، مذهبي، تهذيبي او سياسي ژوند کښې دَ اتحاد او اتفاق نقطه او دَ اظهار وسيله هم ده. اوس هم ده او بيا به هم وي.

- دَ کتاب ترتيبولو په وخت دې دَ نصاب لساني او قومي مقصدونو باره کښې دا خبره يقيني کړے شي چې دَ کتاب په ټولو سبقونو کښې دَ مقصدونو پوره پوره حق ادا کړے شوے دے.

- استاذانو صاحبانو له دې دَ سبقونو دَ متن په ټولو مشکلاتو کښې دَ حل او مرستې دپاره فرهنګ ورکړے شي. کهٔ دَ ضخامت او طوالت ويره وي نو په حاشيو کښې دې اشارې ورکړے شي.

- دَ کتاب دَ پوره ترتیب او تدوین نه پس مؤلفینو له دا جائزه اخستل پکار دي چې:
- دَ کتاب مجموعي تاثر دَ یو اعلی ادبي کتاب په حیث څرګند دے.
- کتاب کښې دَ هر مجوزه لیکونکي او شاعر خپل رنګ، دَ هر دور اواز او هر لیکونکي نمائندګي موجوده ده.
- کتاب دَ موضوعاتو، اسلوب او صنفونو په لحاظ متنوع دے.
- مشقونه په امتحاني، لساني او علمي لحاظ ګټه ور او مقصدي دي او دَ نصاب دَ اهدافو دَ تکمیل ذریعه دي.

# دَ درسي نصابي کتابونو تیاره

۱. سائز: پرائمري 8/ 36 x 23

ملهل: 8/ 36 x 23 او 8/ 30 x 20

دواړه سائزونه کېدے شي.

ثانوي: 8/ 30 x 20

او اعلی ثانوي درجه 8/ 36 x 23

سائزونه دې وساتلے شي.

۲. ضخامت

| | |
|---|---|
| دَ پرائمرۍ اول جماعت | ۸۰ مخونه |
| دَ دویم جماعت | ۱۰۰ مخونه |
| دَ دریم جماعت | ۱۲۰ مخونه |
| دَ څلورم جماعت | ۱۳۰ مخونه |
| دَ پینځم جماعت | ۱۴۰ مخونه |

ملهل دَ یوسلو مخونو نه تر دوو سوه مخونو

دَ ثانوي او اعلی ثانوي درجو کتابونو ضخامت دې دَ ضرورت مطابق وساتلې شي

۳. **تسمیه**:

دَ هر کتاب په اندروني مخ دې بسم الله الرحمٰن الرحیم سره دَ ترجمې ولیکلې شي.

٤. **سرپاڼه**:

سرپاڼه دې رنګینه وي او دَ خپلې خاورې دَ تهذیب او ثقافت او شخصیاتو په خاکو دې ښائسته کړے شوے وي. دَ ثانوي او اعلی ثانوي درجو کتابونو سرپاڼې دې دَ مجردو خیالونو یا دَ علاقائي منظرونو آئینه دارې وي.

٥. **درسي متن**:

درسي متن دې دَ امروزه خبرو اترو او عملي ضرورتونو مطابق وي. دَ زړو لفظونو، ګرانو ترکیبونو او نۀ استعمالېدونکیو محاورو نه دې ځنډه وکړې شي خو کۀ دَ ضرورت تر مخه دَ یو ټکي، ترکیب او محاورې متبادل نۀ وي نو بیا دې دَ خالصې پښتو ذخیرې نه استفاده وکړے شي.

٦. **تدریجي ارتقاء**:

دَ کتابونو په سبقونو کښې دې تدریجي ارتقاء موجوده وي. داسې نۀ وي چې ګران سبقونه وړاندې او اسان دې وروستو وي.

- دَ ثانوي او اعلی ثانوي کتابونو دَ نظم او نثر برخې دې جدا جدا وساتلې شي. دَ مډل په کتابونو کښې دې مضمونونه، فیچرونه، مکالمې او قیصې بیلې بیلې ورکړے شي خو نظمونه دې په کتاب کښې ځائے په ځائے شامل کړے شي.
- سبقونه به دَ درسي یونټونو په شکل کښې وي. په تجویز کړے شویو عنوانونو کښې متن هم شاملېدے شي. البته دَ یونټونو په سر کښې به تدریسي مقصدونه په یو چوکاټ کښې، په سبق کښې شامل خاص لفظونه او لنډ

تدریسي هدایت شامل وي. اوږد متن دې په څو برخو ووېشلے شي چې ترمنځه ئې ربط او عملي مشقونه، سوالونه وغېره ورکېدے شي.

❖ په ګرانو ټکو او ترکیبونو دې دَ ضرورت مطابق اعراب ولګولے شي.

❖ دَ متن په مناسبت دې په مناسبو ځایونو کښې تصویرونه او خاکې ځائے کړے شي. چې دَ خوند او مزې دپاره نهٔ بلکې دَ تدریسي موادو په حېث دې شامل وي. دَ بې ځایه شمولیت نه دې ډډه وکړے شي.

❖ په مشقي سوالونو کښې دې بیلو بیلو سوالونو ته مناسب ځائے ورکړے شي مثلاً امدادي، تفهیمي، ژبني، دَ نورو لوستنو ذوق او دَ تخلیقي قوت راویښولو په اړه سوالونه. سوالونو کښې دې دَ هرې درجې دَ ماشومانو دَ ذهني استعداد خیال وساتلے شي او لوړو درجو ته دَ رسېدو زیار دې هم یقیني کړے شي. سوالونه دې نیم معروضي وي چې متبادل جواب لرونکي سوالونه پکښې په ګڼ شمېر کښې وي.

❖ دَ لیکلو کار دې داسې ماهرو استاذانو ته حواله کړے شي چې دَ متعلقه درجې ژوره تدریسي تجربه لري او دَ درسي سبقونو تیارے دَ دې هدایاتو په رڼا کښې کولے شي.

❖ دَ کتابونو کمپوزنګ دې په نسخ خط کښې په معیاري انداز کښې وکړے شي چې لهٔ غلطیو پاک وي او ټکي دې لږ په فاصله وي.

❖ دَ متن فانټ سائزونه دې په پرائمري کښې دَ ۲۰ نه زیات نهٔ وي، مډل کښې دې دَ ۱۶ نه زیات نهٔ وي. په ثانوي او اعلي ثانوي کښې دې ۱۴ وي. په مشقونو کښې دې دَ ورکړے شویو فانټونو نه دوه دوه فانټه کم وساتلے شي.

❖ دَ کتاب اخر ته دې فرهنګ دَ الف بې (حروف تهجي) په ترتیب شامل کړے شي.

❖ دَ هر اخذ کړے شوي سبق/ نظم سره دې دَ لیکونکي، شاعر نوم اخر ته درج وي.

❖ هر کتاب کښې دې دَ رموزو اوقافو خاص خیال وساتلے شي.

* دَ هیڅ نامعلوم Anonymous شاعر یا لیکونکي کلام یا لیک دې هیڅ کله هم نهٔ شي شاملولی. سېوا لهٔ هغو مضمونونو یا اقتباسونو چې دَ نمونې په توګه شامل شوي وي په هغې دې دَ لیکونکیو نومونه نهٔ ورکړے کېږي ځکه چې دَ تدوین په وخت لهٔ ډېرو تدوینې پړاوونو راتېرېږي.

* وړاندیز (پېشکش) او ډول سنګار (لې آؤټ) دې دَ درسي کتابونو دَ تیارۍ په حواله وي. هغه دې وکړے شي چې هر سبقي یونټ دې دَ کتاب دَ مخونو دَ ښي اړخ نه شروع وي او دَ مشقونو سره دې په کس مخ ختم وي.

# تعليمي سرګرمۍ

۱. دَ طالب علمانو دَ ژبني (لساني) مهارتونو کښې پوخوالي پېدا کولو، اظهار او ابلاغ صلاحيت نشوونما، تخليقي او انفرادي طرز بيان خپلولو دپاره موقعې ورکول ضروري دي. استاذان چې دَ جماعت کمره (کلاس روم) کښې دَ کومو تعليمي سرګرميو اهتمام کوي دَ هغې ذکر دې دَ درسي، نصابي کتاب په مشقونو کښې بالواسطه موجود وي مثلاً مکالمه. ډله ايز بحث، دَ ماشومانو عدالت، انټرويو اخستل، قلمي دوستي، ډرامه، تحريري مقابلې (قيصې. لطيفه، دوبه، تمثيليه، مکالمه، تکل، مزاحيه خاکې، مضمون نويسي، خوشخطي) دَ جماعت کمره (کلاس روم) کښې مذاکرې، خبرې اترې، تقرير يا دَ مختلفو مضمونونو ترمنځه دَ پښتو په تعلق او تړون دَ دستورو نمانځل وغيره چې پکښې دَ طالب علمانو مشاهدې، دَ کتابونو او رسالو متعلق رائې وغيره شاملې وي.

۲. په کومو ښوونځيو کښې چې دَ رسالې شائع کولو روايت موجود وي، طالب علمان دې پکښې برخه واخلي. دَ اخبار يا رسالې نمونه په درسي يونټ کښې شامله بے شي.

۳. علمي البم (تصويرونه، ټوکرې، کارټون، معلومات وغيره جمع کول) دَ الف بې (حروف تهجي) په بنياد لفظونه ترتيبول، په لغت کښې دَ لفظونو دَ معنو لټون، دَ معلوماتو مقابلې. په اهمو قومي دستورو دَ تقريرونو اهتمام. دَ نظم نقل نويسي، دَ نويو لفظونو لغت جوړول، دَ نظم وئيلو مقابلې. دَ سبقونو خلاصې ليکل، تشريح ليکل، خپل تخليقات پېش کول، اصلاح اخستل غېره. دا دې محض په استاذ او طالب علمانو پرې نۀ ښوې شي بلکې دَ درسي نصابي کتاب په مشقونو کښې دې دَ شاملولو هدايات ضرور درج وي.

# سمعي او بصري معاونات

(دَ اوريدو او ليدو دپاره مختلف امدادي څيزونه)

دَ کامياب تدريس دپاره دَ امدادي څيزونو اهميت مسلم دے خو زمونږ په سکولونو کښې دَ دې څيزونو کمے دے ځکه نو سفارش کولے شي چې:

- ❖ سکولونو کښې دې دَ امدادي څيزونو کټ جوړ / ورکړے شي او استاذان دې دَ هغې دَ استعمالولو نه خبر کړے شي. استاذ له پکار دي چې دَ چاپېرچل څيزونه دَ سمعي او بصري معاوناتو په توګه استعمال کړي چونکې زمونږ وطن دَ زياتو خرچونو متحمل کېدے نه شي ځکه نو ضرورت دے چې په تربيتي ادارو کښې دې استاذان دَ تربيت دوران کښې په لاسي کارونو کښې مهارت حاصل کړي او ډېر امدادي څيزونه دې په خپله جوړ کړي او په شاګردانو ئې هم جوړ کړي.
- ❖ طالب علمانو ته دَ صحيح تلفظ او لب و لهجې ښئيلو دپاره دَ ټېپ ريکارډ او لساني لېبارټرۍ Language Laboratory استعمال ډېر زيات ضروري دے. په کليوالو سکولونو کښې دَ دې معاوناتو نه دَ استفادې موقع ضرور ورکول پکار دي. دې دپاره دې سنټر سکول ته يو ټېپ ريکارډر ورکړے شي چې وار په وار سکولونو ته لېږلے شي. دَ درسي کتابونو تيارۍ سره دې آډيو ټېپ هم تيار کړے شي. چې پکښې دَ نمونې خواندګي. تلفظ او نور لساني مشقونه شامل وي.
- ❖ درسي کتابونو کښې دې دَ ريډيو او ټي وي نشريات اوريدو. په دې دَ تبصرې او خبرو اترو کولو مشقونه هم په هداياتو کښې شامل کړے شي.

# دَ استاذانو تربيت

دا تعليمي نصاب په نوي انداز دَ Interactive approach نه په پس مهارتي ارخونو مرتب کړے شوے دے. دي دپاره دَ دي امر ضرورت پېښېږي چې استاذان دې دَ دې نوې امتزاجي تدريسي طريقې سره اشنا کړے شي. دَ دې مقصد دَ حصول دپاره دا لاندينى طريقې پکار راوستے شي:

- درسي کتابونو کښې دَ تدريسي نکتو اندراج
- دَ استاذانو رهنما يا معاونو کتابونو تيارے او هر استاذ ته دَ هغې رسول.
- دَ تجديدي (نوېو) کورسونو انعقاد
- دَ رېډيو په ذريعه تربيتي کورسونه
- دَ ټيلي وژن په ذريعه تربيتي کورسونه
- دَ پښتو قومي نصاب دَ دې اهم دستاويز په زياته پېمانه خورونه او تر استاذانو رسول.
- دَ استاذانو په تربيتي ادارو کښې دَ پښتو تدريسونو دَ نويو غوښتنو سره سم اهتمام. چې استاذان خپلو ملازمتونو ته لۀ راتلو وړاندې دَ نويو طريقو نه خبر وي. دېو تربيتي ادارو کښې دې په عملي فنونو خاصه توجه وشي، چې استاذان تدريسي معاونات په خپله تيار کړے شي.

# دَ استاذانو رهنما یا دَ استاذانو

## مرستیال (کتاب)

دَ دنیا په ټولو ترقي یافته ملکونو کښې دَ درسي کتابونو سره سره دَ استاذانو رهنما (ګائیډ) هم شائع کولے شي چې په تدریس ښۀ کولو کښې دَ استاذانو مرسته وکړے شي. په نوي تعلیمي پالیسۍ کښې دَ نصابي بدلون سره سره دَ استاذانو رهنما یا کم نه کم د درسي کتاب معلم ایډیشن اشاعت هم ضروري دے. دَ استاذانو دَ رهنما مقصد هیڅ کله دا نۀ دے چې استاذ د دې کتاب پابند کړي او دَ هغۀ ذهني صلاحیتونه مفلوج کړے شي. بلکې دا کتاب محض د لارې مشال دے، منزل نۀ دے. دَ موقعې محل لۀ اعتباره دَ تدریس په دوران کښې استاذ دَ دې نه مرسته او رهنمائي حاصلولے شي.

دَ درسي کتابونو صحیح طریقې سره ښئیلو دپاره دې دَ استاذانو دَ رهنما (کتاب) انتظام په خصوصیت سره وشي. لیکونکیو له پکار دي چې دَ استاذانو دَ رهنما کتاب مرتب کولو په وخت دا لاندیني مقصدونه په نظر کښې وساتي.

- ❖ دَ تعلیم عمومي مقصدونو او دَ هر جماعت خصوصي مقصدونو سره دې اشنا کړے شي.
- ❖ استاذ ته دې دا علم وي چې کوم خاص سبق په څۀ مقصد نصاب کښې شامل کړے شوے دے.
- ❖ استاذ دې د هر سبق تیارے دَ هغې دَ خپلو خصوصي او عمومي مقصدونو نه واخله تر جائزې په اسانۍ وکړے شي.
- ❖ په لساني سرګرمیو کښې مخې ته دَ راتلونکیو ګرانو حل وښئیلے شي.
- ❖ دَ لغتونو، تلفظ، تلمیحاتو، متلونو وغیره پوره وضاحت دې وشي.
- ❖ استاذان دې دَ سمعي او بصري معاوناتو دَ صحیح استعمال نه اګاه کړے شي.

- درسي کتابونو کښې دې دَ شاملو تصويرونو دَ تدريسي ضرورتونو ځنې خبر کړے شي.
- دَ طالب علمانو دَ حافظې قوت او فکر او تخيل متحرک کولو لره دې دَ دننني فعاليت Interactive سوالونه مرتب کړے شي.
- دَ انشاء او تخليقي سرګرميو دَ اصلاح دپاره دې مناسبه او دَ عمل جوګه طريقه په ګوته کړے شي.
- دَ تلفظ دَ اصلاح عمل دې يقيني کړے شي او په اوچت اواز دَ وئيلو تربيت دې ورکړے شي.
- دَ عمومي نوعيت غلطيو لرې کولو ته دې دوام ورکړے شي.
- دَ نمونې دَ خواندګۍ او تدريس او تفهيم کښې دَ ترون پيدا کولو هڅه دې وشي.

# جائزې او امتحانونه

دَ تدريسي کاميابۍ جائزه اخستل بې حده ضروري دي. دا جائزه زر هم کېدے شي او ميعادي يا ميقاتي هم خو په جائزه کښې دَ ماشومانو انفراديت، تخليقي صلاحيت او دَ اظهار او ابلاغ صحت او رواني نظر کښې ساتل ضروري دي.

دَ پښتو تدريس کښې دې معروضي ازمېښتونو له هم خصوصي توجه ورکړے شي. دَ انشائي طرز امتحان دَ مسلسل او مربوط اظهار بيان جائزې دپاره ضروري دے. دَ لنډې دمې نه پس دَ طالب علمانو دَ تعلم جائزه دې ضرور واخستے شي. څنې خبرې دې دَ معروضي ازمېښتونو په مرسته وسنجولے شي او باقي دې دَ انشائي جوابونو په ذريعه.

دَ پښتو تدريس په امتحانونو کښې دَ خبرو اترو او تقريري صلاحيتونو دَ جائزې اخستو هيڅ اهتمام نۀ شي کولے. دَ دې حقيقت نه انکار نۀ شي کېدے چې ژبه کښې خبرو اترو او تقرير ته بنيادي اهميت حاصل دے خو دې کښې دَ امتحان نۀ کېدو لۀ کبله استاذان دې له مناسبه توجه نۀ ورکوي. په اول ځل دَ خبرو اترو او تقرير عنصر هم دَ امتحان برخه ګرځولې شوې ده او دې لره دې ۲۵ فيصده نمبرې کښېښودے شي چې دَ طالب علمانو تلفظ، لب و لهجه، رواني، دَ بيان حسن او دَ خطابت زور وسنجولے شي. دَ درسي کتابونو په سبقونو کښې دې هم دې اړخ ته پام او اهتمام وکړے شي چې امتحان ئې واخستے شي. زباني امتحان کښې دې هم کم نه کم څلورمه برخه معروضي سوالونه شامل وي. دَ بورډ په سطح دې دَ زباني امتحان ځان له پرچه وي.

## دَ پښتو دَ قومي نصاب ۲۰۰۹ء

# جوړوونکي

- پروفيسر ډاکټر محمد همايون هما. ريټائرډ پروفيسر مردان
- ډاکټر پرويز مهجور خويشکي. پښتو اکېډمي پېښور يونيوسټي
- پروفيسر داور خان داؤد. پښتو ادبي بورډ. پېښور
- پروفيسر ډاکټر يار محمد مغموم خټک. ايډورډز کالج. پېښور
- ډاکټر محمد زبير حسرت. سبجېکټ سپېشلسټ پښتو. ټېکسټ بُک بورډ پېښور

## دَ پښتو دَ قومي نصاب ۲۰۰۹ء

# جاج اخستونکي

- ډاکټر سلمیٰ شاهين (ډائرېکټر پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي)
- ډاکټر محمد زبير حسرت (سبجېکټ سپېشلسټ پښتو، ټېکسټ بُک بورډ پېښور)
- عبدالله جان عابد (لکچرر پښتو. پاکستاني ژبې. علامه اقبال اوپن يونيورسټي اسلام اباد)
- پروفيسر نصر الله وزير (چئيرمېن پښتو څانګه بلوچستان يونيورسټي کوئټه)
- حبيب نواز حبيب (دَ پښتو څانګې مشر. نېشنل يونيورسټي آف ماډرن لېنګوېجز اسلام اباد)